فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ

وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا

# شُرُوطُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ

## د کلمې شرطونه

هزام مسلم الارهابي

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين وعلى آله وصحبه ومن تبعهم باحسان الى يوم الدين. أما بعد؛

! ګرانو او عزتمندو موحدينو او مومنانو ورونو

!!! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

عزتمندو زه تاسو ته د عقيدې په زده کولو مبارکي درکوم .... ورونو! نن سبا هر قسم فتنې دي .. دی زمانی باره کی نبي عليه السلام فرمايي؛

.عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «العبادة في الهرج كهجرة إلي» رواه مسلم

ترجمه ؛ د فتنو په وخت کې د الله ج عبادت کول دومره اجر لري لکه د نبي عليه السلام په وخت کې نبی عليه السلام طرف ته هجرت کول.

سبحان الله ورونو ! د خوشحالی خبره ده ! فبذلک فليفرحوا

دا فضيلت دوی ته ځکه حاصليږي ځکه چې دغه وخت به فتنې ډيری وي،اکثره خلک به د فتنو ښکار وي(نعوذ بالله)نو د الله په صحيح دين به ډير کم خلک عمل کوي او اکثره خلک به د غفلت په خوب ويده وي ،د خپل ايمان غم به ورسره نه وي ،نو زمونږ دا لږ کوشش هم د دغه حديث فضيلت حاصلولو لپاره دی ...او الله دی وګرځوي (آمين

ورونو! آخره زمانه کی د صحيح دين څخه سکروټه جوړيږي ،لکه نبي عليه السلام فرمايي ؛

.قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: يأتي على الناس زمان الصابر فيهم على دينه كالقابض على الجمر. الترمذي

چې خلکو باندی به داسی زمانه راشي چی صبر کونکی په خپل دين باندی دا به داسی وی لکه څنګه چی يو سړي سکروټه نيولي وي.

نو موحدينو مومنانو فتنی راروانی دي ... ډير خلک به ګمراه شي نعوذ بالله لکه نبي عليه السلام فرمايي؛

عن أبي هريرة، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «ستكون فتن، القاعد فيها خير من القائم، والقائم فيها خير من الماشي، والماشي فيها خير من الساعي، من تشرف لها تستشرفه، فمن وجد منها ملجأ، أو معاذا، فليعذ به ....صحيح البخاري .

وای زر دی چې فتنې به راشي، خو دی فتنو کی ناست سړی به د هغه سړي نه غوره وي چی کوم سړی دی فتنو کی ولاړ وي، او دی فتنو کی ودريدنکی د هغه سړي نه غوره دی کوم چی پکی روان وي (مزل کوي) او مزل کونکی غوره دی د هغه سړي نه چی هغه پکی منډی وهي ... چا چی هسی سر هم ورخکاره کړو نو دا فتنی به يې راګير کړي ،

نو چا چی د دی فتنو نه په امن کيدو او بچ کيدو ځاي پيدا کړو نو دا دی په هغه سره پناه

.... ونیسي

الغرض زما ورونو مقصد می دا دی چی د ټولو نه مهم شی هغه عقیده ده ... چی عقیده

د انسان جوړه وي نو ان شاء الله دا هیڅ کله هم نه ګمراه کیږي او د انسان ټول اعمال د

.... ده لپاره ګټه وي خو که چیری عقیده یې نه وي برابره نو ټول اعمال یې بربادیږی

(نعوذ بالله ... (عاملة ناصبة

عقیده د دوستی او دشمنی معیار دی ... عقیده د کفر او اسلام معیار دی ... عقیده د جنت

او جهنم معیار دی .... عقیده د الله ج د رضا او غضب معیار دی ... عقیده د اخوت، مینی او

محبت او د بغض معیار دی .... عقیده په دنیا کی د ژوند او مرګ معیار دی ... عقیده د

... اعمالو د قبلیدو او رد کیدو معیار دی

... الغرض عقیده باندی زمونږ او ستاسو د ټولو خواریو محنتونو دارومدار دی....

نو دی وجی نه مونږ د عقیدی انتخاب وکړو .... الله رب العالمین دی مونږ او تاسو ته د خپل دین بصیرت رانصیب کړي.
((آمین

بسم الله الرحمن الرحیم؛

الفصل الأول

التعريف بالعقيدة ؛ :

: عقیده ویلی کیږي

والعقيدة لغة فعيلة: من عقد بمعنى معقودة (بمعنى اسم المفعول) عقد الحبل والبيع والعهد يعقده: شده، والعقد: العهد

(القاموس المحيط، باب الدال. فصل العين (جـ1صـ513

... فكأن العقيدة هي العهد المشدود والعروة الوثقى

په لغت کی عقیده ویلی کیږي عقد ته په معنی د معقود سره یعني غوټی ته ویل کیږي

بعضی خلک ورته ګنده وایي ... لکه رسی یا پړي ته غوټه ورکول همدغه شان بیع او اخستل خرڅولو ته هم ویل کیږي او عهد او وعدی ته هم ویل کیږي ... نو خلاصه دا شوه

چی عقیده هغه کلک عهد او مضبوطی کړی ته ویل کیږي .... دا ځکه چی دا په زړه کی

.ډیره ژوره او مضبوطه پرته وي

، او په اصطلاح کی ویل کیږي ؛

الإيمان بأركانه الستة، كما جاء في الحديث الذي رواه الإمام مسلم بإسناده عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال: «قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ... قال يا رسول الله ما الإيمان؟ .. قال: أن تؤمن بالله وملائكته وكتابه ولقائه ورسله وتؤمن .بالبعث وتؤمن بالقدر كله» صحيح مسلم

.د ایمان شپږ ارکان منل لکه څنګه چی دی حدیث د مسلم کی راغلي دي او حدیث جبریل کی راغلي دي

قال فأخبرني عن الإيمان؟ قال: أن تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر وتؤمن بالقدر خيره وشره» صحيح » : مسلم.

..... نو دی ته عقیده ویل کیږي

د عقیدی تعریف یاد کړئ .... دا ډیر مهم دی ... ځکه اکثره خه علماء وي خو د عقیدی تعریف نه ورځي ... نو چی تا تعریف .... وپیژندو نو مخکی به وس لاړ شو .... باذن الله

....................________________________________ ....................

اوس به راشو حدیث د جبریل علیه السلام ته ؛؛؛

【 مراتب الدين 】

حدثني أبي عمر بن الخطاب قال: بينما نحن عند رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات يوم، إذ طلع علينا رجل شديد بياض الثياب، شديد سواد الشعر، لا يرى عليه أثر السفر، ولا يعرفه منا أحد، حتى جلس إلى النبي صلى الله عليه وسلم، فأسند ركبتيه إلى ركبتيه، ووضع كفيه على فخذيه، وقال: يا محمد أخبرني عن الإسلام، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «الإسلام أن تشهد أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله صلى الله عليه وسلم، وتقيم الصلاة، وتؤتي الزكاة، وتصوم رمضان، وتحج البيت إن استطعت إليه سبيلا»، قال: صدقت، قال: فعجبنا له يسأله، ويصدقه، قال: فأخبرني عن الإيمان، قال: «أن تؤمن بالله، وملائكته، وكتبه، ورسله، واليوم الآخر، وتؤمن بالقدر خيره وشره»، قال: صدقت، قال: فأخبرني عن الإحسان، قال: «أن تعبد الله كأنك تراه، فإن لم تكن تراه فإنه يراك»، قال: فأخبرني عن الساعة، قال: «ما المسئول عنها بأعلم من السائل» قال: فأخبرني عن أمارتها، قال: «أن تلد الأمة ربتها، وأن ترى الحفاة العراة العالة رعاء الشاء يتطاولون في البنيان»، قال: ثم انطلق فلبثت مليا، ثم قال لي: «يا عمر أتدري من السائل؟» قلت: الله ورسوله أعلم، قال: «فإنه جبريل أتاكم يعلمكم دينكم .. رواه مسلم.

عمر بن خطاب رضی الله عنه فرمايي؛؛

مونږ یوه ورځ د نبي علیه السلام سره په مجلس کی ناست وو چی ناڅاپه یو سړی راڅکاره شو چی تکی سپینی جامی یي وی او تک تور ویخته یي وو، د سفر هیڅ قسم اثر پری نه خکاره کیدو، او مونږ دا پیژنده هم نه، تر دی چی نبي علیه السلام سره کیناستلو، خپل زنګونونه یي د نبی علیه السلام زنګونونو سره وجنګول او خپل ورغوي یي د نبي علیه السلام په پتونونو کیخودل او بیا یي اوویل : ای محمده ما ته د اسلام باره کی خبر راکړه یعنی اسلام څه ته وايي؟ نو نبی علیه السلام ورته وفرمایل: [اسلام دی ته وایي چی ته ګواهي ورکړی د دی خبری چی الله ج نه علاوه په حقه سره څوک معبود نشته او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه رسول دی او ته مونځ ادا کړی او زکاة ورکړی او د رمضان روژی ونیسی او که طاقت لری نو د بیت الله حج وکړی] نو هغه اوویل: ته رشتیا وایي، نو

وایي مونږ تعجب وکړو چی تپوس هم کوي او بیا تصدیق هم کوي، بیا یي اوویل د ایمان باره کی خبر راکړه، نو نبی علیه السلام وفرمایل: ( چی ته ایمان راوړی په الله ج باندی او د هغه په ملائکو او د هغه په کتابونو او د هغه په رسولانو او په ورځ د آخرت او ته ایمان

راوړی په تقدیر د خیر او شر ) نو هغه اوویل: تا رشتیا اوویل. بیا یې اوویل: د احسان باره

کی ما ته خبر راکړه نو نبی علیه السلام وفرمایل: ( چی ته د الله ج داسی عبادت وکړی ګویا که ته هغه وینی او که ته یې نه وینی نو هغه خو تا ویني) ،نو بیا یې اوویل: ما ته د

قیامت د ورځی باره کی خبر راکړه. نو نبی علیه السلام وفرمایل: ( ندی تپوس کړی شوی ډیر پوهه د تپوس کونکي نه) مطلب دا چی که تا ته د قیامت ورځ باره کی علم نه وی نو ما ته هم علم نشته. نو هغه اوویل: د قیامت نخی او علامات راته بیان کړه، نو نبی

علیه السلام وفرمایل: [چی کله و

بسم الله الرحمن الرحیم؛

الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله وعلی آله وصحبه ومن والاه، أما بعد؛

:الفصل الثاني

مخکی مونږ دا خبره ذکر کړه چی دین دری مرتبی او درجی لري؛

اول اسلام، دویم ایمان، دریم احسان. اول به د هر یو لږ مختصر تعریف بیان کړو او لږ

.وضاحت او بیا به مخکی مباحثو ته لاړ شو .... ان شاء الله

( اسلام )

نن سبا هر سړی دا دعوی کوي چی زه مسلمان یم، خو کچیرته د اسلام تپوس تری وکړی نو بیا لا تقل کیږي ... نو راځئ : چی نن د اسلام تعریف وپیژنو

.اسلام په لغت کی تسلیمیدو ته وايي .یعنی خپل ځان تسلیمول، غاړه کیخودل

: او په اصطلاح د شریعت کی د اسلام دوه تعریفه به مونږ وکړو

:حدیث د جبریل کی راغلي -١

الاسلام أن تشهد أن لا اله الا الله وأن محمدا رسول، وتقیم الصلوة، وتؤتي الزکاة، وتصوم

.رمضان، وتحج البیت من استطاع الیه سبیلا

اسلام پنځو خبرو منلو ته وايي، پنځو ارکانو منلو ته وايي،

.اول د لا اله الا الله محمد الرسول الله ګواهي کول

.دویم مونځ ادا کول

.دریم زکاة ورکول

.څلورم روژه نیول

.پنځم د بیت الله حج کول

.دا آسان او لنډ تعریف دی .... دا باید هر مسلمان ښځی او نر، لوي او وړوکي ته یاد وي

اسلام څه ته وايي ؟؟؟

...... پنځه ارکانو منلو ته .... هغه کوم کوم دي ؟؟؟ کلمه، مونځ

... دا تعریف خپله هم یاد کړئ او کور کی تولو ښځو او ماشومانو باندی هم یاد کړئ

(قوا أنفسکم وأهلیکم نارا)

:خه وس به راشو بل تعریف ته

:امام أهل السنة محمد بن عبدالوهاب رحمه الله فرمایي ـ٢

.الاسلام: هو الاستسلام لله بالتوحید، والانقیاد له بالطاعة، والبراءة من الشرك وأهله

:پښتو کی داسی اووایه

اسلام ویلی کیږي د الله ج توحید منل، د هغه طاعت ته غاړه کیښودل او شرک او مشرکانو

.نه براءت کول

.دغه دری خبری شوی: توحید، اطاعت ته غاړه، شرک او مشرکانو نه براءت

.دا ډیر جامع تعریف دی. نور تفصیل کی فی الحال نه ورځو

.د اسلام تعریف پر دی ځاي ختم شو. ولله الحمد علی ذلک

پرونی سبق هم یاد کړئ،

دین څو مرتبی دی؟ ـ١

اسلام دوه تعریفونه بیان کړه؟ ـ٢

بسم الله الرحمن الرحیم؛

الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله وعلی آله وصحبه ومن والاه، أما بعد؛

:د ایمان تشریح

مخکی مونږ دا خبره ذکر کړه چی دین دری مرتبی او درجی لري؛

اول اسلام، دویم ایمان، دریم احسان. نو پرون مونږه د اسلام مختصر وضاحت وکړو نن به ان شاء الله د ایمان لږ تشریح .بیان کړو

( ایمان )

.ایمان د دین دویم رکن او درجه او مرتبه ده. چی لغت کی ویلي کیږي: تصدیق ته، یقین ته

:او په اصطلاح کی د ایمان ډیر تعریفونه دي

:آسان تعریف د زنانوو او ماشومانو لپاره هغه دا دی کوم چی حدیث جبریل کی راغلی ـ١

.الایمان أن تؤمن بالله وملئکته وکتبه ورسله والیوم الآخر والقدر خیره وشره ★

چې ته ایمان راوړی په الله باندی، د هغه په ملائکو باندی، د هغه په کتابونو باندی، د هغه

.په رسولانو باندی او په ورځ د آخرت باندی او په تقدیر د خیر او شر باندی

.... دا خو مشهور دی، هر مسلمان ته یاد دي، د ایمان شپږ ارکان

نو دا څومره آسان تعریف شو، چې ته ایمان راوړی په الله ج باندی .... د آسمان نه شروع

وکړه، بیا په ملائکو، بیا په کتابونو، بیا دا کتابونه په چا نازلیږي؟ په رسولانو، نو بیا ایمان په رسولانو، او بیا ورځ د آخرت .... او تقدیر د خیر او شر

آسان دی ډیر آسان دی ..... ټول یې یاد کړئ،،،،،

:دویم تعریف ـ۲

.الإیمان هو إقرار باللسان وتصدیق بالقلب وعمل بالجوارح ★

.ایمان ویلی کیږي په ژبه اقرار کول، په زړه تصدیق کول او په اندامونو عمل کول

نو معنی دا شوه چې ته به د دغه شپږ ارکانو په ژبه اقرار کوی، دا به منی، او بیا به د

زړه نه پدی یقین کوی، ځکه کچیری د زړه نه نه وو نو بیا خو دا نفاق دی، او بیا به د دی

.ارکانو مطابق اعمال کوی.ځکه ستا د زړه نه خو څوک خبر ندی خو ظاهر ته به کتل کیږي

وس یو سړی وایې زه مونځ منم، خو کوي یې نه، نو دا څنګه منل شو، یا وایې زه په 〖

〗الله ایمان لرم او بت ته سجده کوي نو دا خو ایمان نه شو

:دی وجی نه نبي علیه السلام فرمایي

(أمرت أن أحكم بالظواهر)

.نو ځکه شریعت ظاهر ته ګوری

دی تعریف باندی یو اعتراض واردیګي چې دی کی خو دي عمل بالجوارح (په اندامونو عمل) نو د زړه متعلق اعمال لکه خوف، رجاء، توکل، مینه، بغض وغیره خو د دی تعریف نه خارج شو ؟؟؟

نو د دی خبری دوه جوابه دي. اول: دا چې زړه هم یو اندام دی نو دا اعمال خپله پکي داخلیږي. دویم: دا چې ظاهری اعمال ذکر شو نو باطنی اعمال پکی حکما راغلل.

:امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمایي

وكان أحمد بن حنبل يذهب إلى أن الإيمان قول باللسان وعمل بالأركان واعتقاد بالقلب يزيد بالطاعة وينقص بالمعصية ويقوى بالعلم ويضعف بالجهل ...

.العقيدة رواية أبي بكر الخلال

چې ایمان ویلی کیږی د ژبی وینا ته او په اندامونو عمل او د زړه تصدیق ته، په نیکی سره

.زیاتیږي او ګناه سره کمیږي او علم سره قوي کیږي او جهل سره کمزوری کیږي

دریم تعریف: چې دا د اکثرو سلفو تعریف دی، ـ۳

.هو قول و عمل يزيد وينقص ★

:ايمان قول او عمل ته وايي چی زياتيږي او کميږي.لکه امام مالک وايي

(.وقال مالك: «الإيمان قول وعمل يزيد وينقص» ( السنة لعبد الله بن أحمد

(.العمل قسمان: عمل القلب وهو الإخلاص والنية، وعمل الجوارح وهي الأعضاء ويدخل في ذلك اللسان. (اعتقاد أئمة الحديث

.عمل په دوه قسمه دی: د زړه عمل چی هغه اخلاص او نيت ته ويلی کيږي.او د اندامونو عمل چی هغی کی ژبه هم داخليږي

:امام سفيان ثوری او هشام بن حسان وايي

.وحدثنا يحيى بن سليم قال: سألت سفيان الثوري وهشام بن حسان عن الايمان؟ فقالا: الايمان قول وعمل

:امام شافعي وايي

. قال الامام الشافعي : أن الإيمان قول وعمل، يزيد وينقص

(.آداب الشافعي ومناقبه لابن أبي حاتم الرازي)

.قال يحيى: وسألت ابن جريج عنه: فقال مثل ذلك، وسمعت مالك بن أنس يقول مثل ذلك

(.اصول السنة لابن ابي زمنين)

همدا قول د صحابوو قول دی: لکه عبد الله بن مسعود، حذيفه، عمر، علی، معاذ بن جبل،

عبد الله بن عباس، ابو الدرداء رضی الله عنهم او همدا شان تابعينو کی د حسن بصري، عمر بن عبدالعزيز، سعيد بن (.جبير،امام مجاهد وغيره قول دی. (شرح الاصول اللالكائي

:او د نورو ډيرو سلفو نه نقل دی.امام بخاری خپل صحيح البخاری کی وايي

{وهو قول وفعل، ويزيد وينقص، قال الله تعالى {ليزدادوا إيمانا مع إيمانهم

.نو دا هم خه تعريف دی خو مقصد يو دی.چی قول دی وکړو نو بيا به عمل هم د دی مطابق کوی

.نو دری تعريفونه شو

بسم الله الرحمن الرحيم؛

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد؛

! عزتمندو مسلمانانو ورونو

په حديث جبريل کی مونږ او تاسو د اسلام او ايمان تعريفات وپيژندل نو وس به د الله ج

فضل او توفيق سره مونږ او تاسو احسان وپيژنو، ورونو ! د دين اسلام دريمه مرتبه او اعلی درجه احسان ده، د احسان تعريف دا دی؛

(احسان)

احسان لغت کی څه ته ويل کيږي ؟

: نو قرآن کريم کی الله جل شانه فرمايي

.إن الله يأمر بالعدل والإحسان) أي إعطاء الحسنة وفعل الخير)

.دلته د احسان معنی ښه ده ؟ نیک کار او ښه بدله ورکول

:او اصطلاحي تعریف يي حدیث د جبریل کی راغلی

【 أَنْ تَعْبُدَ اللّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ 】

چی ته د الله رب العالمین داسی عبادت او بندګي وکړی چی ګویا که ته الله ج وینی او که دا تصور نشی برابرولی نو بیا دا خو برابر که چی الله ج تا ویني.

نو د احسان دوه ارکانه یا دوه درجی شوی؛

.اعلی مرتبه چی ته خپلی مخی ته د رب تصور وکړی -۱

.علي مرتبه چی دا تصور وکړی چی الله ج ما ته ګوري -۲

(دا د عبوديت اعلى مراتب دي، چی دی باندی خواص مؤمنان پوهیږي. الله ج دی مونږ او تاسو ته هم رانصیب کړي. (آمین

بیا چی ته مونځ کوی نو د هغه به جدا اثر او خوند وي، او که ذکر کوی د هغه به خپل لذت

.وي،د روژی به خپل کیفیت او سرور وي، د جهاد خپل خوند او د حج خپل خوند وي

لکه ته په مونځ ولاړ يي، او ستا دا سوچ دی چی زه الله ګورم او دا ورته وایم چی الحمد

لله رب العالمین، الرحمن الرحیم، مالک یوم الدین، ایاک نعبد وایاک نستعین، اهدنا الصراط

المستقیم، ........ او یا دا سوچ وکړی چی الله ج وس ما ته ګوري او زما دا حمد او ثناء

:اوري او دی سره ما نه راضي کیږي.لکه هغه حدیث د مسلم کی راځي کنه

قال الله تعالى: قسمت الصلاة بيني وبين عبدي نصفين، ولعبدي ما سأل، فإذا قال العبد: {الحمد لله رب العالمين} ، قال الله {تعالى: حمدني عبدي، وإذا قال: {الرحمن الرحيم

{، قال الله تعالى: أثنى علي عبدي، وإذا قال: {مالك يوم الدين

{، قال: مجدني عبدي - وقال مرة فوض إلي عبدي - فإذا قال: {إياك نعبد وإياك نستعين

قال: هذا بيني وبين عبدي، ولعبدي ما سأل، فإذا قال: {اهدنا الصراط المستقيم صراط الذين أنعمت عليهم غير المغضوب { عليهم ولا الضالين

.قال: هذا لعبدي ولعبدي ما سأل " مسلم

څومره خواږه خواږه جوابونه الله رب العالمین ورکوي، چی ته الحمد لله اووايي نو الله ج

فرمایي: حمدني عبدي، زما بنده زما حمد او تعریف بیان کړو. سبحان الله ! نو خشوع به

نه برابریږي.......؟؟؟

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله ومن والاه، أما بعد ؛

عزتمندو ورونو !

د الله ج په فضل سره مونږ او تاسو د اسلام، ایمان او د احسان مختصر تعریفونه زده کړل

نو وس به لږ مخکی لاړ شو او د اسلام اول رکن کلمه، د دی به لږ وضاحت وپیژنو، ان شاء الله ........

(رکن الاسلام الاول)

د اسلام اول رکن

د اسلام پنځه ارکان وو، اول یکی کلمه وه، چی دا د توحید عقیدی بنیاد دی، نو دی وجی نه د کلمی به څه نا څه وضاحت د الله ج په مدد وکړو.

د اسلام اول رکن کلمه د دوه اجزاو نه جوړه ده :leftwards_arrow_with_hook: :

اول لا اله الا الله او دویم محمد رسول الله.

شیخ الاسلام ابن تیمیة وایي :

فإن الإسلام مبني على أصلين: أن لا نعبد إلا الله وحده، وأن نعبده بما شرعه على لسان رسوله - صلى الله عليه وسلم - لا نعبده بالأهواء والبدع.

الفتاوى الكبرى لابن تيمية.

یقینا اسلام په دوه اصولو بناء دی (ولاړ دی، جوړ دی) اول: چی مونږ به عبادت نه کوو مګر د یو الله ج. دویم : او مونږ به عبادت کوو خو په طریقه د رسول صلی الله علیه وسلم.

د دی کلمی ګواهی لپاره دری خبری ضروري دي:

١- علم : ځکه عقیده د انسان هله جوړیږي چی کله ورسره علم وي، چی علم نه لري نو ده ته پته نه وی چی دی کلمه کی څه بیان شوي دي.

٢- نطق : په ژبه اقرار کول دا هم د کلمی لپاره لازم دي.

٣- عمل : بیا د دی کلمی د تقاضا مطابق ژوند تیرول او عمل کول هم لازم دي.

مَعْنى الشَّهَادَتَيْنِ : د کلمه معنی :leftwards_arrow_with_hook: :

(لا اله الا الله أي لا معبود بحق الا الله " .. (نشته دی لائق د عبادت مګر یو الله دی "

بیا د لا اله الا الله دوه ارکان دي،

(اول: لا اله (دا نفی ده او دی ته کفر بالطاغوت ویل کیږي

(دویم: الا الله (دا اثبات دی او دی ته ایمان بالله ویل کیږي

لا اله: تنفي جميع ما يعبد من دون الله .... لا اله سره د الله ج نه علاوه د ټولو معبودانو

عبادت باطل وګرځیدو.

الا الله: تثبت جميع أنواع العبادة لله وحده لا شريک له... الا الله سره ټول عبادتونه صرف او صرف د الله ج لپاره ثابت شو.

نو اول تخلیه ده او دویم تحلیه ده، او تخلیه مقدمه وي د تحلیه نه، اول به په معبودان :leftwards_arrow_with_hook: باطله باندی کفر کوي، د هغی نه پس به ستا زړه کی ایمان راځي،لکه دا نه شي کیداي چی ستا زړه کی دی د بت مینه هم وي او توحید هم، نه اول به ته د بت مینه اوباسی د هغی نه وروسته به توحید ورداخلیږي، ظاهر کی د دی مثال داسی دی لکه یو لوخی دی هغی کی گندگي ده او ته پکی شیدو هم واچوي چی یره وروسته به تری گند لری کړو نو آیا دا شیدو د څکلو قابل دي؟ نه نه بالکل نه ! اول به لوخی د هر قسم گندگی نه صفا کړی بیا به پکی شیدو واچوي نو فائده به درکړي، همدغه شان خبره د عقیدی ده.

بله خبره دا ده چی دلته اول تور راغلی دی بیا جوړ، نو د هغه خلکو خبره هم باطله ده :leftwards_arrow_with_hook: چی وایي تور به نه راولی، جوړ به راولی !!

نه گوری اول به کفر بما یعبد من دون الله کوي بیا به ایمان په الله ج راوړی او دا قانون دی د تور نه بغیر جوړ نه راځي .... نبي علیه السلام نه خه دعوت د چا وو؟ نه، د هغه د وجی ابتداء کی د خلکو مینځ کی تور نه وو راغلی؟ پلار د ځوي سره وران وو، لور د مور سره، ورور د ورور سره ... جوړ وروسته راغی .... ظاهر او خارج کی د دی مثال، گوره

غنم خلک میده کوي (تور راغی) بیا یي پخوي، درزیان جامی اول کټ کوي (تور راغی) بیا یي جوړوي، غټی غټی ونی وي اول یي خلک اره کوي (تور راغی) بیا تری دروازی او نور شیان جوړوي نو دا خبره د دی حضراتو غلطه ده.

نو د ننی درس خلاصه دا شوه:

د کلمی دوه ارکان دي: لا اله الا الله بل محمد رسول الله، بیا د لا اله الا الله معنی، بیا د

لا اله الا الله دوه جزه دي: یو لا اله او بل الا الله. لا اله نفی ده او دی ته کفر بالطاغوت وایي او الا الله اثبات دی او دی ته ایمان بالله وایي.

مبارک شه چی تا د کلمی اجمالي علم زده کړو او دومره علم په هر مسلمان ښځه او نر باندی لازم دي .... وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمین.

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله وعلی آله وصحبه ومن والاه؛ أما بعد:

عزتمندو ورونو !

مونږ او تاسو بحمد لله د کلمی مختصر علم شروع کړی وو، دی لپاره چی د خپلی عقیدی نه خبر شو، الله ج وپیژنو او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم وپیژنو، نو مونږ او تاسو د کلمی اول جز " لا اله الا الله "په مطلب باندي څه نا څه پوهه شو نو وس به دی بل جز ته راشو چی هغه " محمد رسول الله " دی.

【اَلْجُزْءُ الثَّانِي : شَهَادَةُ أَنَّ مُحَمَّدا رَّسُوْلُ اللّٰہ】

معرفته : د رسول علیه السلام پیژندنه ؛ :leftwards_arrow_with_hook:

هو محمد بن عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم وأمه آمنة بنت وهب. ولد في مكة وهو من قريش. بعثه الله للعالمين بشيرا و نذيرا وداعيا إلى الله بإذنه و سراجا منيرا، وهو خاتم الانبياء والمرسلين و أفضل الخلق أجمعين.

د نبي علیه السلام مختصر نسب. نوم یي محمد د پلار نوم یي عبدالله، د هغه پلار عبد المطلب او د هغه پلار هاشم او مور نوم یي آمنة بنت وهب وو، په مکه کی پیدا شوی وو او د قوم نه قریش وو. الله ج د ټول عالم لپاره زیری او ویره ورکونکی رالیږلی وو او د الله ج په اذن او امر سره الله ج طرف ته دعوت کونکی وو او روخانه ډیوه وه. او دا محمد صلی الله علیه وسلم د ټولو انبیاءو او رسولانو وروستی ( خاتم مهر او ټاپه) دی او د ټولو خلکو څخه غوره دی.

أن نطيعه فيما أمر به ونجتنب ما نهانا عنه. :leftwards_arrow_with_hook:

نبی علیه السلام چی مونږ ته کوم امر کوي هغه ومنو او د کوم کار نه چی مونږ منع کوي د هغی نه ځان وساتو. نو د نبی علیه السلام هر امر مونږ پرځای کړو خو بیا امرونه په دوه قسمه دي مختصرا: على وجه الالزام او بل على وجه الاستحباب، یعنی بعضی امرونه یې په طریقی د لزوم سره کړي وي نو د هغی منل واجب او لازم دی او بعضی یې په طریقه د لزوم سره ندي کړي بلکی په طریقه د استحباب سره کړي دي نو د هغی منل مستحب دي. {وما آتاكم الرسول فخذوه وما نهاكم عنه فانتهوا واتقوا الله إن الله شديد العقاب}

:leftwards_arrow_with_hook: الايمان به وبما أخبرنا به من الاخبار سواء كانت مما حصل قبلنا او ما سيحصل بعدنا وتوقيره وتعزيره. قال تعالى

{لتؤمنوا بالله ورسوله وتعزروه وتوقروه وتسبحوه بكرة وأصيلا }

أن لا نعبد بما جاء به النبي صلى الله عليه وسلم فان الله لا يقبل منا أي عبادة إلا أن تكون خالصة له وموافقة للشريعة التي بعث بها النبي صلى الله عليه وسلم. قال تعالى

{فليحذر الذين يخالفون عن أمره أن تصيبهم فتنة أو يصيبهم عذاب أليم}

.وقال النبي صلى الله عليه وسلم { من أحدث في أمرنا هذا ما ليس فيه، فهو رد} البخاري

په نبی علیه السلام باندی ایمان راوړل لازم دي او په ټولو هغه خبرونو چی نبی علیه السلام یې خبر ورکړی، که هغه د مخکی زمانو دي او که د راتلونکی زمانی او د نبی علیه السلام عزت او اکرام هم پر مونږ تاسو لازم دی.

او هر عبادت به د نبی علیه السلام په طریقه کوو ځکه الله ج هیڅ یو عمل نه قبلوي مګر چی دوه شرطونه پکی وي؛ اول اخلاص او دویم طریقه د نبی علیه السلام.

:leftwards_arrow_with_hook: الايمان بأنه أدى الرسالة كاملة ولم ينقص منها شيئ وأن دعوته عامة للناس أجمعين.

پدی خبره ایمان راوړل چی نبی علیه السلام خپل رسالت او پیغمبری په کامل ډول رسولي ده او هیڅ قسم کمی یې پکی ندی کړی او د هغه دعوت عام دعوت دی، د ټولو خلکو لپاره یو شان دعوت دی.

:leftwards_arrow_with_hook: الايمان بأنه من ادعى النبوة بعده فهو كاذب كافر، ومن صدقه واتبعه فقد كفر وأنه صلى الله عليه وسلم مات. {إنك ميت وإنهم ميتون}

پدی خبره ایمان راوړل چی د نبی علیه السلام نه وروسته چا د نبوت دعوی وکړه نو هغه دروغجن او کافر دی او چا چی د ده تصدیق وکړه او تابعداري یې وکړه نو دا هم کافر دی او نبي علیه السلام وفات شوی دی.

نو ورونو ! دا د محمد رسول الله د کلمی د دویم جز مختصر وضاحت وو، نو څنګه چی لا اله الا الله باندی ایمان راوړل فرض دي، همدغه شان په محمد رسول الله هم ایمان راوړل فرض دي او څنګه چی الله ج توحید مونږ منو، همدغه شان توحید في الرسالة هم پر مونږ تاسو لازم دی........

{ صلى الله عليه وسلم }

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد؛

محترمو مسلمانانو ورونو !

مونږ او تاسو د کلمی مختصر مباحث وپیژندل، ولله الحمد على ذلک، نو وس به راشو دی خبری ته چی د لا اله الا الله دویم جز کفر بالطاغوت وو، نو د طاغوت لنډه معنی به وپیژنو بتوفیق الله ومنه.

【 مَا مَعْنَی الطَّاغُوْت 】

طاغوت څه ته وايي ؟

لغة مشتق من الطغيان وهو مجاوزة الحد. :leftwards_arrow_with_hook:

" د طاغوت لفظ د طغيان نه ماخوذ دی او دا د "حد نه تیریدلو ته وايي

او په اصطلاح کی طاغوت ویلی کیږي: :leftwards_arrow_with_hook:

{ وَهُوَ كُلُّ مَا تَجَاوَزَ بِهِ الْعَبْدُ حَدَّهُ مِنْ مَعْبُوْدٍ أَوْ مَتْبُوْعٍ أَوْ مُطَاعٍ }

فطاغوت كل قوم من يتحاكمون إليه غير الله ورسوله أو يعبدونه من دون الله أو يتبعونه على غير بصيرة من الله. (اعلام الموقعين 1 / 50)

هغه معبود، متبوع او مطاع ته ویلی کیږي چی بنده د هغه د وجی د شریعت حد او پولی نه تیر شي.

نو هر قوم چی هغوی د الله ج او د هغه رسول علیه السلام نه علاوه بل چا ته فیصلی وړي نو دا د هغی قوم طاغوت دی، او یا د الله ج نه علاوه د هغی عبادت کوي او یا د الله ج له طرف نه د دلیل نه بغیر د هغی تابعداري کوي.

معبود: هغه څه چی عبادت یې کیږي، ]

متبوع: هغه څه چی تابعداري یې کیږي،

مطاع: هغه څه چی اطاعت یې کیږي]

نو ورونو ! لنډ مقصد دا شو چی هر هغه شی چی هغی د وجی نه ته د شریعت د اصولو نه تیر شوی او د الله ج نافرماني دی وکړه نو دا شی ستا لپاره طاغوت دی .... لکه ستا د مذهب خلاف یو حدیث راشی او ته مذهب راونیسی او حدیث فریدی چی دا زمونګ مذهب کی نشته

لکه دا نن سبا مذهبیان مقلدین مشرکین هم داسی کوی د مذهب لپاره د احادیثو اتیا جوابونه کوی حدیث لپاره حیلی جوړوی په یوه طریقه چی حدیث کندی ته ګزاری او مذهب اوچت کړی نو ددی وجی نه دا مذهبونه هم لوی طواغیت دی

همدا شان ښځه او، کاني، بوټي ... بس هر شی هغه شی چی علت او سبب وګرځیدو لپاره د عبادت د غیر الله یا تابعداری د غیر الله او رسول صلی الله علیه وسلم او یا اطاعت د غیر الله لپاره، نو دا طاغوت دی.

دا جامع او خکلی تعریف دی.

【 أقسام الطاغوت 】 :leftwards_arrow_with_hook:

د طاغوت دری اقسام دي.

★ ١- طاغوت العبادة :

وهو كل ما عبد من دون الله من شيطان أو إنس حي أو ميت (ويشترط في الانسان أن يكون راضيا بعبادتهم) أو حيوان أو جماد .. من شجر أو حجر، أو كوكب من الكواكب .... سواء عبد بتقديم القرابين له أو بدعائه أو بالصلاة له من دون الله

{وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوْتَ أَنْ يَعْبُدُوْهَا وَأَنَابُوا إِلَی اللَّهِ لَهُمُ الْبُشْرٰی فَبَشِّرْ عِبَاد }

د عبادت طاغوت :

دا هر هغه شي ته ویلی کیږي چی د الله ج نه غیر یې عبادت کیږي برابره خبره ده که هغه شیطان وي او که انسان (مړ وي او که ژوندی) خو انسان کی یو شرط شته (هغه دا دی کچیرته دا په خپل عبادت راضي وو نو طاغوت دی او که راضي نه وو نو بیا طاغوت نه

نه دی، پدی قید سره هغه نیکان خلک او انبیاء تری اووتل چی د هغوی عبادت کیږي ځکه نعوذ بالله مشرکان خو د نبي علیه السلام عبادت هم کوي او د عیسی علیه السلام عبادت هم کوي او د علي رضي الله عنه او داسی نورو عبادت هم شوی دی نو دا خو طواغیت ندي)او که حیوان وي او که د جماداتو څخه وي لکه بوټی وي او که کاڼی وي او که ستوری وي .... برابره خبره ده که د ده عبادت پدی سره کیږي چی د دی نزدی او محبوب خلک ورته پیش کړی شي(وسیله کړی شي) او که ده نه څه غواړي او که د ده لپاره مونځ کوي د الله ج څخه پرته نو دا ټول دی قسم کی داخلیږي.مطلب هر نوعه عبادت وي نو هغه دلته مراد دی.

★ ٢- طاغوت الحکم :

وهو كل ما تحوكم إليه من دون الله من دستور شركي او قانون وضعي أو حاكم بغير ما أنزل الله، سواء كان قاضيا او سلطانا أو غيرهما ...

{يريدون أن يتحاكموا إلى الطاغوت} وقوله {أفحكم الجاهلية يبغون ومن أحسن من الله حكما لقوم يؤمنون } .

د حکم او فیصلی طاغوت :

دا هر هغه شي ته ویل کیږي چی د الله ج څخه نه بغیر ورته فیصلی وړل کیږي، که دا شرکي او وضعي مذهبی جمهوري قانون وي او که دا هغه حاکم وي چی د الله ج نازل کړي قانون نه غیر په نورو کتابونو فیصلی کوي یعنی په جمهوريت اساسی نظام لاډ میکالی قانون او یا په فقه حنفي فقه شافعي فیصلی کوی،

★ ٣- طاغوت المتابعة :

ومثاله متابعة العلماء السوء في تحليل الحرام وتحريم الحلال، وتشريع أحكام الطواغيت ....

ولا بد أن يعلم المرء أن التشريع من خصائص الله تبارك وتعالى ....

{إتخذوا أحبارهم ورهبانهم أربابا من دون الله }

وقد جاء في تفسير هذه الاية أن الاحبار والرهبان أحلوا ما حرم الله وحرموا ما أحل الله فبهذا اتخذهم الناس اربابا من دون الله.

د تابعداری طاغوت :

د دی مثال لکه هغه ناکاره ملایان چی د ځان نه حرام حلالوي او حلال حراموي او د ځان نه کفري او شرکي قوانین جوړوي او خلک یې تابعداری کوی نو دا د تابعداری طاغوت دی.او دا هم لازمه خبره ده چی باید هر مسلمان خبر وي پدی خبره چی قانون جوړول دا هم صرف او صرف د الله رب العالمین حق دی.

✧ زما عزتمندو ورونو ! دا طاغوت خه سم وپیژنئ او بیا تری ځان وساتئ. لکه نن سبا طواغیت ډیر زیات دي لکه ډیموکراسي (جمهوريت)، وطنيت، قوميت مذهبيت وغیره.

(الله رب العالمین دی مونږ او تاسو د هر قسم طاغوت نه وساتي. (آمین

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد؛

! محترمو مسلمانانو ورونو

مونږ او تاسو د الله ج په فضل سره د طاغوت تعریف وپیژندو، نو نن به ان شاء الله د طواغیتو سرونه یعني لوي طواغیت وپیژنو.

【 رُءُوْسُ الطَّوَاغِيْت 】

< لوي طواغيت >

.شیخ الاسلام محمد بن عبدالوهاب رحمه الله فرمایي : طواغیت خو ډیر دي خو سرونه یي پنځه دي

الشيطان الداعي الى عبادة غير الله؛ :leftwards_arrow_with_hook:

دا په ټولو کی لوي طاغوت دی.د هر کفر او شرک مرجع شیطان دی او دا په اصل کی د شیطان عبادت دی، الله ج فرمایي؛

{ألم أعهد إليكم يا بني آدم أن لا تعبدوا الشيطان إنه لكم عدو مبين ° وأن اعبدوني هذا صراط مستقيم }

من دعا الناس إلى عبادته من دون الله؛ :leftwards_arrow_with_hook:

.څوک چی خپل عبادت ته خلک رابلي

من عبد من دون الله وهو راض؛ :leftwards_arrow_with_hook:

.د الله ج نه سیوا د چا عبادت کیږي او دا پری راضي وي

دی دواړو کی دا لاندیني خلک داخلیږي؛

.هغه طواغیت چی حرام حلالوي او حلال حراموي ★

.د صوفیانو او شیعه ګانو مشران چی هغوی ته سجدی کیږي ★

الذي يدعي علم الغيب من دون الله؛ :leftwards_arrow_with_hook:

{ قل لا يعلم من في السموات والارض الغيب الا الله وما يشعرون أيان يبعثون }

او دی کی دا خلک داخل دي؛

ساحر ★

کاهن ★

عراف ★

الحاكم بغير ما أنزل الله؛ :leftwards_arrow_with_hook:

پدی کی دا خلک داخلیږي؛

.هغه خلک چی په وضعي قوانینو فیصلی کوي ★

.هغه خلک چی د قومونو په تړو فیصلی کوي ★

.هغه خلک چی د قانون سازي غړي دي او یا د پارلمان غړي دي او یا قاضیان دي ★

【 أَلْكُفْرُ بِالطَّاغُوْت 】 :leftwards_arrow_with_hook:

په طاغوت به کفر څنګه کوو ؟؟

په پنځه طریقو سره به په طاغوت باندی کفر کوو؛

.أن تكفر بها؛ وذلک باعتقاد بطلان عبادة غير الله وبطلان الاديان والمذاهب الكفرية ـ١

اول دا چی کافر به ورته وایو او د الله ج نه سیوا د غیر الله عبادت او د باطلو او کفري

.مذهبونو باطلوالي عقیده لرل

.وتتركها؛ وذلک بالبراءة منها ومن أهلها ـ٢

.دا طاغوت به پریږدی، هغه داسی چې طاغوت او طاغوتیانو خلکو سره به براءت کوی

وتبغضها؛ ـ٣

وتكفِّر أهلها؛ ـ٤

.وذلک باعتقاد كفر من يعبد الطواغيت او يؤمن بها واظهار تكفيرهم بقدر الامكان

بغض ورسره کول او د دی طاغوتیانو تکفیر کول، دوی ته کافر ویل او څومره چی د انسان وس وي د دی عقیدی اظهار .کول

وتعاديهم؛ ـ٥

.دی طاغوت او طاغوتیانو سره کلکه دشمني کول

.الله رب العالمین دی مونږ او تاسو د هر قسم فتنو او فسادونو نه په امان کړي.آمین

.وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين

مسلمیار

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد؛

! محترمو مسلمانانو ورونو

نن به د الله ج په فضل او کرم سره یوه مهمه مسئله بیانه کړو، چې زمونږ د عقیدی ټول دارومدار په هغی باندی دی، او نجات صرف او صرف پدی میلاویږي، د اعمالو د قبلیدو ذریعه، جنت ته د دخول علت او سبب، د جهنم څخه د خلاصیدو یوائنی لار، د الله ج رضا حاصلولو بهترینه واسطه،زمونږ او ستاسو د خواریانو اولنی او بنیادي هدف، د مومنانو د زړه ارمان، د انبیاءو د راتګ لوي مقصد، دا څه شی دی ؟؟ دا د توحید عقیده ده.نو راځئ چی نن د الله په مدد سره د دغه مهمی .مسئلی باره کی یو څو خبری وکړو

【تَعْرِيْفُ التَّوْحِيْد】

" د توحيد تعريف "

:توحيد په لغت کی ویل کیږي

.مصدر وحّد يوحّد توحيدا، اذا جعل الشيئ واحدا

.د باب تفعيل مصدر دی او د يو شي يو ګرځولو او يو ګڼلو ته ويلی کيږي

:او اصطلاح کی ★

.هو إفراد الله في ذاته وربوبيته وألوهيته وأسمائه وصفاته

.الله تعالی په ذات، ربوبيت، الوهيت او نومونو او صفتونو کی يو ګڼل

[ مختصره شرحه ]

مطلب دا چی بنده به ايمان راوړي پدی خبره او اقرار به کوي چی الله ج يواځی او يواځی د هر شي رب او مالک دی، او يواځی هم هغه ذات خالق دی او د ټول عالم تدبير چلونکی دی، او همدغه الله ج د عبادت مستحق دی، هيڅ شريک نه لري، او د الله ج نه علاوه بل هر هغه څوک چی عبادت کيږي نو د ده دا عبادت باطل دی، او الله ج ښايسته ښايسته صفات لري او ښکلي ښکلي نو مونه لري، او د هر قسم عيب او نقص نه پاک دی .....

.نو دا د توحيد مختصره پيژندنه شوه

【 فضائل التوحيد 】

:أن من حقق التوحيد دخل الجنة .... لقوله عليه السلام :leftwards_arrow_with_hook:

عن عبادة رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم، قال: «من شهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأن محمدا } عبده ورسوله، وأن عيسى عبد الله ورسوله، وكلمته ألقاها إلى مريم وروح منه، والجنة حق، والنار حق، أدخله الله الجنة على {ما كان من العمل

.متفق عليه

څوک چی موحد وو او توحيد باندی تر مرګه پوری پاتی شو نو دا انسان به الله ج جنت ته داخلوي، نبي عليه السلام ★ :فرمايي

چا چی د کلمی (توحيد) ګواهي ورکړه، او د دی خبری چی عيسی عليه السلام د الله ج بنده او رسول دی او د الله ج کلمه ده، چی مريم عليها السلام ته يې ورواچوله او د الله ج له طرفه روح دی، او جنت هم حق وګڼي او اوور هم حق وګڼي نو الله ج .به دا خامخا جنت ته داخلوي که دا په هر قسم عمل کی لګيا وي

:أنه يمنع الخلود في النار، اذا کان فی القلب منه مثقال ذرة، وذلک لحديث الشفاعة؛ :leftwards_arrow_with_hook

.اذهبوا فمن وجدتم في قلبه مثقال ذرة من إيمان فأخرجوه،} متفق عليه }

د توحيد خاوند يعني موحد انسان به هميشه جهنم کی نه وي، اګر که د ده زړه کی ايمان د ذری په اندازه ولی نه وي، د ★ : حديث د شفاعت کی راځي

.الله ج فرمايي؛ تاسو لاړ شئ د چا په زړه کی چی د ذری برابر ايمان وي نو هغه د اوور نه راوباسئ

:أنه يحصل لصاحبه الهدی الکامل والامن التام فی الدنيا والآخرة، کما في قوله تعالی :leftwards_arrow_with_hook:

{الذين ءامنوا ولم يلبسوا إيمانهم بظلم آولئك لهم الامن وهم مهتدون }

.موحد انسان ته به الله ج په دنيا او آخرت کی پوره هدايت کوي، او دا په دواړو ځايونو کی خه په امن کی وي★

أنه يحرر العبد من رق المخلوقين والتعلق بهم وخوفهم ورجائهم والعمل لأجلهم وهذا :leftwards_arrow_with_hook:
....هو العز الحقيقي والشرف العالي ويكون مع ذلک متألها متعبدا لله، لا يرجو سواه ولا يخشى الا اياه

موحد انسان د بندګانو د غلامی نه خلاصيږي او د دوی د تعلق نه، د دوی د خوف په ځاي هغه بيا رب نه ويريږي، او د ★ خلکو پرځاي هغه بيا رب نه اميد ساتي، او بيا د خلکو له امله اعمال نه کوي او دا حقيقی عزت دی،(چی داسی رب ته سر ټيټ کړی چی ستا خالق او مالک دی، د خکلو صفاتو خاوند دی او مخلوق خو تا سره په هر څه کی برابر دي نو دی ته سجده ځنګه ولړولی شي، عبادت به يي ځنګه وکړی شي) او توحيد سره انسان يواځی د الله عبادت کوي، هغه نه اميد ساتي .او هم هغه ذات نه يره کوي

ومن أعظم فضائله أن جميع الاعمال والاقوال الظاهرة والباطنة متوقفة في قبولها :leftwards_arrow_with_hook:
:وکمالها وفي ترتيب الثواب عليها على التوحيد؛ يقول تعالى

{ من كان يرجو لقاء ربه فليعمل عملا صالحا ولا يشرک بعبادة ربه أحدا }

د توحيد ټولو نه لوي فضيلت دا دی چی ټول اعمال او اقوال، که هغه ظاهري دي او که باطني دي، د دی ټولو ★ .قبوليت،مرتبی د کمال او اوچتوالي او د درجی د ثواب، دا ټول په توحيد باندی بناء دي

نو الغرض د دنيا او آخرت کاميابي لپاره توحيد لازمي شی دی.نو مونږ او تاسو ته هم د توحيد عقيده اختيارول پکار دي او تر مرګه د الله ج څخه پدی عقيده استقامت

بسم الله الرحمن الرحيم

:الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه أجمعين؛ أما بعد

! مسلمانانو ورونو

.مونږ او تاسو تير درس کی د توحيد څه نا څه مطلب مو بيان کړو، نن به ان شاء الله د توحيد اقسام بيان کړو

【 أَقْسَامُ التَّوْحِيْد 】

" د توحيد قسمونه "

اکثره علماءو د توحيد دری اقسام بيان کړي دي؛

.نو بعضو علماءو توحيد څلور اقسامو ته تقسيم کړی، توحيد الذات، توحيد الربوبية، توحيد الالوهية، توحيد الاسماء والصفات

.او چا داسی تقسيم کړی؛ توحيد الربوبية، الالوهية، الاسماء والصفات، الحاكمية

او چا دوه قسمونو ته تقسيم کړی؛

قد قدمنا انقسام التوحيد إلى قسمين: توحيد المعرفة والإثبات وهو توحيد الربوبية والأسماء والصفات, وتوحيد الطلب ★ .والقصد وهو توحيد الإلهية والعبادة

معارج القبول ج 2 / ص 459

شيخ الاسلام ابن القيم فرمايي؛

★ وأما التوحيد الذي دعت إليه رسل الله، ونزلت به كتبه: فوراء ذلك كله وهو نوعان: توحيد في المعرفة والإثبات، وتوحيد في المطلب والقصد. مدارج السالكين.

خو صحيح خبره دا ده چی ابن القیم -رحمه الله فرمایي؛

. (لا مشاحة في الاصطلاح . " مدارج السالكين " (3 / 306

یعنی لا مشاحة معنی لا تنازع، په اصطلاحاتو کی څه ممانعت نشته کله چی فساد پکی نه وي،

نو مونږ وایو چی توحید په دری قسمه تقسیم شي نو دا به خه وي؛ ځکه توحید الذات په توحید الربوبية کی داخلیږي او توحید الحاكمية په توحید الالوهية کی داخلیږي.

【د توحید دری اقسام دي】

توحید الربوبية؛ -١

افراد الله بأفعاله، وذلك باعتقاد أن الله هو الخالق، المالک، المدبر، لا شریک له، وأنه تعالی لا یشارکه أحد في أفعاله المختصة به، وهو وحده متصرف في مخلوقاته بمقتضى علمه وحكمته، والغني سبحانه عن الشركاء، والنظراء، والانداد والاعوان.

قل ادعوا الذين زعمتم من دون الله لا يملكون مثقال ذرة في السموات ولا في الارض وما لهم فيهما من شرك وما له منهم من ) ظهير) سبا ٢٢.

الله تعالی پخپلو کارونو کی یو ګڼل، لږ تفصیل یي دا دی چی ته به دا عقیده لری چی همدا الله رب العالمین خالق، مالک، تدبیر جوړونکی دی، شریک نه لري، او د الله جل جلاله سره خاص کارونو کی هیڅوک شریک نشته،(لکه مړه کول، ژوندي کول وغیره) او هم هغه ذات په ټول مخلوقاتو کی خپله تصرف کوي د خپل علم او حکمت په تقاضا باندی، او الله جل جلاله د هر قسم شریکانونه نه بري او پاک دی.

نور دوه قسمونه به بل کی درس بیان کړو

بسم الله الرحمن الرحيم

:الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه أجمعين؛ أما بعد

! مسلمانانو ورونو

دی درس کی به ان شاء الله العزيز د توحید پاتی دوه اقسام بیانوو؛ توحید الالوهية و

.توحید الاسماء والصفات

【 أَقْسَامُ التَّوْحِيْد 】

" د توحید قسمونه "

توحید الالوهية؛ :two:

افراد الله في الوهيته) وذلک باعتقاد أن الله سبحانه وتعالی هو الاله الحق المستحق للعبادة محبة وذلا وتعظيما، وأن كل معبود ) سواه باطل.

{وما أمروا الا ليعبدوا الها واحدا لا اله الا هو سبحنه عما يشركون }

★ الله رب العالمین په الوهیت کی یو ګڼل، او دی توحید په اساس داسی عقیده به لرو چی الله جل وعلا یواځی اله دی، په حقه سره، د عبادت مستحق دی،د وجی د محبت او ذلت

.او د تعظيم نه، او د الله رب العالمين نه علاوه هر معبود باطل دی

:leftwards_arrow_with_hook: عبادت څه ته ويل کيږي؛

عبادت په لغت کی " الذُلُّ وَالْإِنْقِيَاد " ته وايي، ځان ذليله کول او غاړه کيخودلو ته وايي، طريق معبد أي طريق مذلل للسير. ((هغه لارى ته وايي چی خلک پرى ځي راځي، او دا ذليله وي يعنى تابع وي

★ او په شريعت کی د عبادت اطلاق په دوو شيانو کيږي؛

(باعتبار المتعبِّد؛ ( په اعتبار د عبادت کونکي سره ـ ١

فهي كمال الحب مع كمال الذل. قال الشيخ ابن تيمية رحمه الله؛

[والعبادة تجمع كمال المحبة مع كمال الذل} [قاعدة في المحبة ٩٨/١ }

او شيخ الاسلام ابن القيم رحمه الله وايي؛

وعبادة الرحمن غاية حبه ......................................مع ذل عابده هما قطبان

(باعتبار المتعبَّدْ به؛ (په اعتبار د هغه شي، چی هغی سره عبادت کيږي ـ ٢

.فهي؛ اسم جامع لكل ما يحبه الله ويرضاه، من الأقوال والأفعال،الظاهرة والباطنة

دا يو جامع نوم دی چی شامل دی هر هغه قول او فعل ته، که ښکاره وي او که پټ چی الله جل جلاله خوخ وي او هغه پرى راضي کيږي.

نو وس مثالونو ته يي گوره؛ مونځ يو فعل دی، د الله تعالى خوخ دی او هغه پرى راضي کيږي نو دا عبادت دی ....... صدقه، جهاد، حج، روژه، وغيره.

:three: 【تَوْحِيْدُ الْأَسْمَاءِ والصِّفَات】

دا هم د توحيد يو خوږ او مهم قسم دی؛

:افراد الله في اسمائه وصفاته)؛ وهذا ينبني على أصلين)

.الأول؛ تنزيه الله عما لا يليق به، وذلک بنفي ما نفاه الله عن نفسه وما نفا عنه رسوله صلى الله عليه وسلم

الثاني؛ اثبات ما أخبرنا الله به من اسمائه وصفاته في كتابه، أو اخبرنا بها رسوله صلى الله عليه وسلم في سنته،من دون تكييف او تعطيل او تمثيل او تاويل.

{ولله الاسماء الحسنى فادعوه بها وذروا الذين يلحدون في أسمائه، سيجزون ما كانوا يعملون }

:الله رب العالمين په نومونو او صفتونو کی يو کيل) او دا په دوه اصولو باندی بناء دی)

★ اول؛ د هر هغه نوم او صفت نه د الله جل جلاله پاکي بيانول چی د هغه د شان سره لائق نه وي، او د دی عملی تطبيق به داسي وي چی هغه صفات او نومونه د الله جل جلاله نه نفی کول کوم چی هغه د خپل ځان نه نفي کړي وي او يا رسول الله {عليه السلام ترى نفی کړي وي؛ لکه خوب، { لا تأخذه سنة ولا نوم } هيريدل {وما كان ربک نسيا

دویم؛ هر هغه نوم او صفت الله ج لپاره ثابتول کوم چې هغه پخپل کتاب کې ځان لپاره★

.ثابت کړی وي او یا نبي علیه السلام ورله په خپلو احادیثو کې ثابت کړی وي، خو بغیر د تکییف، تعطیل، تمثیل او تاویل نه

.لکه ذاتي صفتونه؛ لاسونه، مخ، ګوتی، پنډۍ، سترګي

.معنوي صفتونه؛ علم، اراده، حیاة (ژوند)، قدرت

.فعلي صفتونه؛ نزول، استواء، پیدا کول، رزق ورکول

نو دا ټول به مونږ منو ....... او کوم نوم یا صفت چې نه وی ثابت د الله جل جلاله لپاره

نو هغه به نه ثابتوو ..... هلته به سکوت کوو......لکه اوریدل الله جل جلاله کوي، نو مونږ به داسی نه وایو چې الله جل جلاله اوریدل کوي خو غوږونه یې نشته او یا داسی چې الله جل جلاله په غوږونو اوریدل کوي، نو دا دواړه غلط دي،

.د اهل السنت والجماعت د موقف او عقیدی خلاف دي، په باب د اسماء وصفاتو کې د ځان نه قیاسات به نه کوو

نور د الله رب العالمین کوم کوم صفات په قرآن او حدیث کې راغلي، او د تعطیل، تکییف، تمثیل او تاویل مطلب او بعضی شبهات او د هغی جوابات به ان شاء الله راتلونکو درسونو کې وکړو.

م الله الرحمن الرحیم

:الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه أجمعين؛ أما بعد

! مسلمانانو ورونو

دی درس کې به د الله ج په فضل او توفیق سره بعضی هغه صفات د الله رب العالمین بیان کړو کوم چې په قرآن او حدیث کې بیان شوي دي او یا نفي شوي دي ......

【 تَوْحِيْدُ الْأَسْمَاءِ والصِّفَات 】

" د نومونو او صفتونو توحید "

د الله جل جلاله هغه صفات چې په قرآن او حدیث کې ثابت دي؛

{حیاة؛ ژوند: {وتوكل على الحي الذي لا يموت ـ١

{علم؛ {هو الأول والآخر والظاهر والباطن وهو بكل شيء عليم ـ٢

{قوت؛ {إن الله هو الرزاق ذو القوة المتين ـ٣

{سمع؛ اوریدل: {ليس كمثله شيء وهو السميع البصير ـ٤

{بصر؛ لیدل: {إن الله نعما يعظكم به إن الله كان سميعا بصيرا ـ٥

{اراده؛ {ولولا إذ دخلت جنتك قلت ما شاء الله لا قوة إلا بالله} { إن الله يحكم ما يريد ـ٦

{محبت؛ {وأحسنوا إن الله يحب المحسنين ـ٧

{رضا؛ {رضي الله عنهم ورضوا عنه ـ٨

{رحمت؛ {كتب ربكم على نفسه الرحمة ـ٩

غضب، غصه، کراهت (بد ګڼل) او بغض؛...١٣ ـ ١٠

{ومن يقتل مؤمنا متعمدا فجزاؤه جهنم خالدا فيها وغضب الله عليه ولعنه}

{ذلك بأنهم اتبعوا ما أسخط الله وكرهوا رضوانه}...... {فلما آسفونا انتقمنا منهم}

{ولكن كره الله انبعاثهم فثبطهم}... {كبر مقتا عند الله أن تقولوا ما لا تفعلون}

المجيئ والاتيان (مزل او تگ کول)؛ ... ۱۵ -۱۴

{هل ينظرون إلا أن يأتيهم الله في ظلل من الغمام والملائكة وقضي الأمر}

مخ د الله تعالی؛ -۱۶

{ويبقى وجه ربك ذو الجلال والإكرام}

لاسونه د الله رب العالمين؛ -۱۷

{وقالت اليهود يد الله مغلولة غلت أيديهم ولعنوا بما قالوا بل يداه مبسوطتان ينفق كيف يشاء}

سترگی د الله جل جلاله؛ -۱۸

{واصبر لحكم ربك فإنك بأعيننا}

۱۹،۲۰، ۲۱؛ د مکر، کید او محال (قوت، عقاب)؛

{شديد المحال} - {ومكروا مكرا ومكرنا مكرا وهم لا يشعرون}

{إنهم يكيدون كيدا • وأكيد كيدا}

۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۵، ۲۶؛ عفو، مغفرت، رحمت، عزت، قدرت؛

{إن تبدوا خيرا أو تخفوه أو تعفوا عن سوء فإن الله كان عفوا قديرا}

{وليعفوا وليصفحوا ألا تحبون أن يغفر الله لكم والله غفور رحيم} {ولله العزة ولرسوله وللمؤمنين}

پندی؛ -۲۷

{يوم يكشف عن ساق ويدعون الى السجود وهم سلمون}

کلام (خبری)؛ -۲۸

{وكلم الله موسى تكليما }

بطش (رانيول)؛ -۲۹

{ان بطش ربک لشديد}

احاطه کول؛ -۳۰

{والله محيط بالكفرين }

...... او بعضی نور کوم چی قرآن او حدیث کی راغلي

کوم صفات چی نفي شوي دي؛ :leftwards_arrow_with_hook:

الله رب العالمين مثل نه لري او شريک،والد، ولد نه لري؛

{ليس كمثله شيئ} {لم يلد ولم يولد} {ولم يكن له كفوا أحد} {فلا تجعلوا لله أندادا وأنتم تعلمون}

صاحبة نه لري، نفي شوی ده؛

{بديع السموات والارض أنى يكون له ولد ولم تكن له صحبة وخلق كل شيئ وهو بكل شيئ عليم}

همدا شان خوب او د خوب ټالی (پرکالی) ترې نفي شوی ده؛

{لا تأخذه سنة ولا نوم}

هيره په رب باندی نه رازي؛

{وما كان ربک نسيا }

الله رب العالمين نه عجز نفی شوی دی؛

{وما كان الله ليعجزه من شيئ في السموات والارض إنه كان عليما قديرا}

...... هدا شان نور کوم شيان چی ترې قرآن او حديث کی نفی شوي دي.نو هغه هم پکی شامل دي

:sunflower::bouquet: ..... بل صفت ★

استواء د الله رب العالمين؛ :leftwards_arrow_with_hook:

{الرحمن على العرش استوى}

علو د الله جل جلاله؛ :leftwards_arrow_with_hook:

{يا عيسى إني متوفيك ورافعك إلي} {بل رفعه الله إليه}

معيت (يوځاي والی، نصرت، ملګرتوب) د الله تعالی؛ :leftwards_arrow_with_hook:

{لا تحزن إن الله معنا} {إنني معكما أسمع وأرى}

{إن الله مع الذين اتقوا والذين هم محسنون}{واصبروا إن الله مع الصابرين}

د الله جل جلاله رؤيت (ليدل) د قيامت په ورځ؛ :leftwards_arrow_with_hook:

{وجوه يومئذ ناضرة • إلى ربها ناظرة} {على الأرائك ينظرون}

قرآن د الله جل جلاله له طرفه نازل شوی؛ :leftwards_arrow_with_hook:

{وهذا كتاب أنزلناه مبارك} {لو أنزلنا هذا القرآن على جبل لرأيته خاشعا متصدعا من خشية الله}

.... دا خو صرف صفات شو، د دی صفاتو لړ تفصيل به بل درس کی وکړو ، ان شاء الله★

بسم الله الرحمن الرحيم

: الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه؛ أما بعد

! گرانو موحدينو ورونو

د عقيدی درس شروع وو، د توحيد مختصر مباحث شروع وو، د الله په فضل سره څه نا څه توحيد مو وپيژندو، خوشحالي دی وي د هغه مومن لپاره چی عقيده يې زده کړي وي او بيا يې بل چا ته هم خودلي وي، نو نن به د کلمی شرائط شروع .کړو، باذن الله

【 شُرُوْط لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ】 :hibiscus:

" د کلمی شرائط "

يقينا دا لا اله الا الله د اسلام چابي ده او سړی دی سره اسلام ته داخليږي او د ده وينه او مال معصوم کيږي خو دومره خبره ده چی څنګه هره چابي غاښونه لري همدا شان دا کلمه هم څه شروطونه لري، د دی معنی پيژندل، بيا د دی په مقتضی عمل ............ کول او د دی نواقض (ماتونکي شيانو) نه ځان ساتل ..... هله دا کلمه تا ته فائده درکوي

که نه داسی کلمه خو دا کفار او مرتدين هم وايي، خو هندو ستړی الله ناراضا،

خو ځان پوهه کړه مسلمانه ! رحمک الله (الله دی پر تا رحم وکړي) د دی کلمی شرطونو نه مراد صرف د دی الفاظو يادول مقصود نه دي، ځکه ډير کرت به يو سړي ته دا شرطونه په خوله نه ورځي خو په ټولو شرائطو به عمل کوي او کله کله به يو سړي ته ټول شرطونه خه صحيح ياد وي، خو عمل به پکي درک هم نه لري .....نو مراد اول د دی علم او بيا پری عمل .....

بيا علماءو مختلف شرائط ذکر کړي لکه چا اول شرط نطق يا اقرار ويلی دی خو مونږ د نطق خبره مخکی ذکر کړی ده او .... مونږ هغه مشهور شرائط ذکر کوو ..... ان شاء الله.... اول يې اجمالي واوره

.علم ۲- يقين ۳- اخلاص ۴- صدق ۵- محبت ۶- انقياد ۷- قبول ۸- کفر بالطاغوت -۱

.... اول دا ياد کړه ... وس به راشو لږ تفصيل ته

(اول علم؛ (علم به وي جهل به نه وي :leftwards_arrow_with_hook:

د کلمی اول شرط علم دی، چی د دی کلمی په معنی او مقصد به ځان پوهه کړی، چی زمونږ رب مونږ ته په کلمه کی څه وايي ؟او څه چی کلمه اووايم نو ما باندی څه لازميږي

؟؟ نو چی ته د کلمی په معنی نه پوهيږی نو ته به د دی مطابق زندګي څنګه تيره کړی.....؟؟....

د کلمی مختصر او لازم علم مونږ مخکی بيان کړو، ولله الحمد ..... لکه

....... د کلمی معنی، بيا د کلمی دوه جزه، لا اله الا الله او بل محمد رسول الله

بيا د لا اله الا الله، دوه ارکان، يو لا اله، دا نفی ده او بل الا الله، دا اثبات دی، دی اول ته

کفر بالطاغوت ويل کيږي او دويم ته ايمان بالله، بيا د عبادت تعريف مونږ او تاسو وپيژندو او بيا د طاغوت تعريف او اقسام، .... بيا د محمد رسول الله وضاحت او بيا د توحيد وضاحت

نو دا د کلمی اجمالي علم دی او په هر چا باندی فرض دی، دا چی سړی زده کړي نو بيا په طاغوت کفر کوي، بيا يو الله معبود ګڼي، د توحيد ټول اقسام په ځان کی راولي او هر هغه شی چی هغی د وجی يې توحيد خرابيږي لکه شرک اکبر، ...اصغر، ارتداد وغيره نو هغی نه په کلکه ځان ساتي او د نبي عليه السلام خبره او اطاعت د هر چا څخه ډير کوي

.... او دا وس هم مونږ او تاسو د کلمی په علم کی لګیا یو

دلیل پدی شرط دا آیت دی؛

{ .... فاعلم أنه لا اله الا الله واستغفر لذنبک وللمؤمنين والمؤمنات} ★

ته ځان پوهه کړه پدی خبره چی د الله نه ماسیوا بل څوک د عبادت حقدار نشته، یعنی د کلمی لا اله الا الله علم وکړه، فاعلم څه معنی ...؟؟ علم وکړه ...! نو دا علم په مونږ او تاسو، په زنانوو، او په ماشومانو ټولو فرض دی. او د دی نه بغیر مو .کلمه ناقصه ده

.حدیث؛ عن عثمان قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم (من مات وهو یعلم أنه لا اله الا الله دخل الجنة) رواه مسلم ★

څوک چی مړ شو پداسی حال کی چی دا د لا اله الا الله په علم پوهیدو (د دی مطابق عقیده یې وه) نو دا سړی به جنت ته .داخلیږي

نو وس وګوره چی دا شرط په حدیث کی هم بیان شوی دی، او جنت ته دخول هم په علم بناء شوی دی .....نو علم د کلمی .لازم دی او جهل به نه وي، ځکه جهل د علم تضاد دی

بسم الله الرحمن الرحیم

:الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین وعلی آله وأصحابه أجمعین؛ أما بعد

د کلمی شرائط مختصر شروع وو، تیر درس کی مونږ او تاسو اول شرط چی علم دی، د هغی لړه تشریح زده کړه، چی د کلمی معنی او مقصد به پیژنی، نو کله چی تا ته علم حاصل شو نو بیا به پدی یقین کوی ..... نو دویم شرط د کلمی یقین دی،

【الشَّرْطُ الثَّانِيْ أَلْيَقِيْن】 :leftwards_arrow_with_hook:

" دویم شرط یقین دی "

هغه یقین چی د شک منافي دی،دا کلمه چي په څه شي دلالت کوي، یا الله او رسول علیه السلام کومه خبره مونږ ته کوي، که هغه د تیری شوی زمانی خبر وي او که د راتلونکي زمانی پیشن ګوئي وي او که قرآن او حدیث کی هره خبره وي نو مونږ او تاسو به پری کلک یقین کوو، داسی یقین چی شک ته پکي ځاي نه وي، ځکه ایمان خو د یقین نوم دی،چی یقین نه وي نو بیا خو د دی کلمی ویل بی فائدی دي، لکه یو سړی د الله جل جلاله وجود کي شکي وي، نو دا به د هغه وحدانیت څه ومني ؟؟ دا به لا اله چیرته عملي کړي ؟؟ دا به په طاغوت کفر څنګه وکړي ..؟؟ دا به د جهنم د یری نیک اعمال څنګه وکړي ....؟؟

دلیل پدی شرط؛:palm_tree:

{إِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ ءَامَنُوْا بِاللهِ وَرَسُوْلِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا وَجٰهَدُوْا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ آولٰئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْن}

یقینا مومنان هغه کسان دي چی الله او د هغه په رسول یې ایمان راوړی وي، بیا پکی شک نه کوي او جهادونه کوي پخپلو .مالونو او نفسونو سره، همدغه صفتونو والا خلک رشتیني دي

!نو ګوره پدی آیت کی د ایمان صدق یې په څه شي بناء کړی ...؟؟ په شک نه کولو باندی

...یعني څوک چی شک نه کوي نو دا صادقه مومنان دي او څوک چی شک کوي، هغه منافق دی

حدیث کی راځي؛:palm_tree:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم؛

أشهد أن لا اله الا الله وأني محمد رسول الله، لا يلقى الله بهما عبدا غير شاك فيهما الا دخل الجنة } ... رواه مسلم}.

زه ګواهي ورکوم چې د الله جل جلاله نه سيوا څوک د عبادت لائق نشته او زه د الله رسول يم، نو الله جل جلاله سره چې کوم بنده پدغه عقيده پداسی حال کی ميلاو شي چې شک يې پکی نه کوو نو دا سړی به جنت ته داخل شي.

او بل روايت کی هم راځي؛:palm_tree:

فمن لقيت من وراء هذا الحائط يشهد أن لا اله الا الله مستيقنا بها قلبه فبشره بالجنة .... نو ګوره دی کی هم دا خبره ده چې د لا اله الا الله ګواهي يې ورکوله خو د زړه په يقين سره نو هغه لپاره هم د جنت زيری دی ...

نو زما ورونو !

مونږ او تاسو ته هم پکار دي چې د الله او د رسول عليه السلام په ټولو ارشاداتو، په وعد او وعيدونو، خبرونو کلک اعتماد وکړو او بيا د هغی مطابق عمل شروع کړو ... او د منافقانو پشان د شک او شبهو څخه ځان وساتو ....

الله جل جلاله دی مونږ او تاسو ته د خپل دين بصيرت رانصيب کړي. آمين.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين وعلى آله وأصحابه أجمعين؛ أما بعد:

د کلمی شرائط مختصر شروع وو، تير درس کی مونږ او تاسو دويم شرط چې يقين دی،

چې الله او د هغه رسول مونږ ته څه ارشاد فرمايي نو په هغه کلک او مضبوط يقين کول، نو کله چې علم هم راغی، او يقين هم راغی نو بيا اخلاص پکار دی نو دريم شرط د کلمی اخلاص دی .....

【الشَّرْطُ الثَّالِثُ: أَلْإِخْلاَص】 :leftwards_arrow_with_hook:

" دريم شرط اخلاص دی "

هغه اخلاص چې شرک پکی نه وي، اخلاص څه ته ويلی کيږي ....؟؟

تجريد قصد التقرب الى الله تعالى عن جميع شوائب الشرک) الله رب العالمين ته نزدی کيدو قصد، اراده او عزم، د هر قسم ) شبهی د شرک نه خالي کول ...

يعني د دی کلمی د تقاضی مطابق چې مونږ کوم عمل کوو نو هغه به يواځی او يواځی د هغه لوي رب د رضا لپاره وي، پدی کی به د الله جل جلاله نه سيوا بل هيڅوک مقصود او مطلوب نه وي، ولی ....؟؟ ځکه چې د لا اله الا الله دريم شرط اخلاص دی، نه به ستا مقصود بندګان وي، نه ملائک، نه پيريان او نه بل څوک .... صرف هغه الله به مطلوب او مقصود وي کوم چې زمونږ او ستاسو خالق او مالک دی...

دليل؛:palm_tree:

ألا لله الدين الخالص } .... {وما أمروا الا ليعبدوا الله مخلصين له الدين حنفاء ويقيموا الصلوة ويؤتوا الزكوة ذلك دين } القيمة}

او حديث کی راځي؛:palm_tree:

عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم: أسعد الناس بشفاعتي يوم القيمة من قال لا اله الا الله خالصا من قلبه ... رواه البخاري.

د قيامت په ورځ به هغه سړی زما په شفاعت کی ډير برخمن وي، چا چې لا اله الا الله کلمه په اخلاص سره لوستلي وي.

【الشَّرْطُ الرَّابِعُ: الصِّدق】 :leftwards_arrow_with_hook:

" څلورم شرط صدق دی "

صدق ویلي کیږي، مطابقة الکلام للواقع، د واقع مطابق خبرې کول، په مونږ او تاسو دا کلمه صدق سره ویل لازم دي، چې د ژبې او زړه یوه خبره وي، ځکه چې په ژبه سړی یوه

خبره کوي او په زړه کې يې بل څه وي نو دا خو نفاق شو، نو داسې صدق چې د دروغو منافي وي،

:palm_tree:دلیل:

آلـــــم.أحسب الناس أن یترکوا أن یقولوا آمنا وهم لا یفتنون. ولقد فتنا الذین من قبلهم فلیعلمن الله الذین صدقوا ولیعلمن } الکذبین{

حدیث؛:palm_tree:

عن معاذ بن جبل عن النبي صلی الله علیه وسلم؛ ما من أحد یشهد أن لا اله الا الله وأن محمدا رسول الله صادقا من قلبه الا حرمه الله علی النار.

نشته دی یو بنده چې هغه د توحید کلمې ګواهي د زړه نه په رشتیا سره ورکړې مګر الله ج به يې په د جهنم اوور ته نه داخلوي.

!نو عزتمندو ورونو

.خپل توحید سره او خپل عبادت کي او رسالت هر څه کې صدق او رشتینولي پکار ده

بسم الله الرحمن الرحیم

:الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله وعلی آله وصحبه ومن والاه؛ أما بعد

مونږ د الله په فضل سره څلور شرطونه اوویل نو وس به پنځم شرط ته راشو،

【الشَّرْطُ الْخَامِسْ اَلْقَبُوْل】 :leftwards_arrow_with_hook:

" پنځم شرط قبول "

.القبول هو الرضی بالشیئ) په یو شي باندې راضي کیدو ته ویلی کیږي) ★

د لا اله الا الله تولی تقاضی منل په مونږ او تاسو لازم دي، هغه قبلول چې د رد کولو منافي وي، چې دا کلمه مونږ او تاسو ته کومه لار ښوونه کوي،الله او رسول علیه السلام

مونږ او تاسو ته کوم امر کوي نو دا په ژبه، زړه او اندامونو سره منل په مونږ او تاسو لازم دي.کله کله یو سړی کلمه وایي خو د قبولیت په شرط نه وي خبر نو د ضد او د حسد د وجې د الله جل جلاله اوامر رد کوي.رد کول دا د مشرکانو صفت دی، ځکه هغوی به د الله جل جلاله اوامر نه منل ...

الله جل جلاله فرمایي؛:palm_tree:

{انهم کانوا اذا قیل لهم لا اله الا الله یستکبرون}

【الشَّرْطُ السَّادِسْ اَلْاِنْقِیَاذْ】 :leftwards_arrow_with_hook:

" شپږم شرط انقیاد"

.الانقیاد الذل والخضوع) ځان ذلیله کولو او عاجزه کولو ته ویل کیږي) ★

نو مطلب دا چی دا کلمه د څه شي تقاضا کوي، او الله او رسول علیه السلام چی مونږ نه څه غواړي نو هغی ته ځان تابعدار کول او غاړه ورته کینودل.او د دی ضد " ترک " دی. انقیاد او قبول کی لږ فرق دی، چی قبول په افعالو کی وي او انقیاد د دغه افعالو اظهار په ژبی سره کولو ته وایي. او کله داسی وي چی سړی یو کار قبول کړي، کار کوي، خو د زړه د کومی نه وي، نو انقیاد دغه د زړه نه هم منلو او قبلولو ته وایي.

دلیل؛:palm_tree:

{ومن یسلم وجهه الی الله وهو محسن فقد استمسک بالعروة الوثقی والی الله عقبة الامور}

حدیث؛:palm_tree:

.فاذا نهیتکم عن شيئ فاجتنبوه واذا امرتکم بأمر فأتوا منه ما استطعتم) البخاري)

کله چی زه تاسو د یو شي نه منع کړم نو تاسو منع کیږئ او چی کله تاسو ته امر وکړم نو تاسو د خپل وس او طاقت مطابق راتګ کوئ.

.الله رب العالمین دی مونږ او تاسو ته د خپل دین علم نافع رانصیب کړي. آمین

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله وعلی آله وصحبه ومن والاه، أما بعد ؛

زمونږ د عقیدی درس شروع وو، بحمد الله، نو د کلمی بعضی شرائط په مختصر انداز کي بیانیدل، تر اوسه شپږ شرطونه بیان شو .... نن به باذن الله اووم شرط بیان کړو ....

【الشَّرْطُ السَّابِعُ : اَلْمَحَبَّةُ】 :leftwards_arrow_with_hook:

" اووم شرط محبت "

المحبة؛ میل القلب الی الشيئ والانس والسرور به) د زړه میلان او مینی ته وایي، او ضد یي کراهة دی، او دا " بُعد ) ★ القلب " د زړه لری والي او نفرت ته ویلی کیږي.

نو دی کلمی سره به مونږ او تاسو محبت کوو او دا چی مونږ ته څه ښایي، الله جل جلاله او نبي علیه السلام مونږ ته کوم امر کوي نو مونږ به دغه هر څه سره د زړه نه محبت کوو

کوم اعمال چی کوو، دا به په محبت سره کوو، الغرض ټول شریعت سره به کلک محبت کوو.او بغض، نفرت به نه ..... کوو.

دلیل؛:palm_tree:

{ والذین ءامنوا أشد حبا لله }

حدیث؛:palm_tree:

عن أنس قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ثلاث من کن فیه وجد بهن حلاوة الایمان

أن یکون الله ورسوله أحب الیه مما سواهما، وأن یحب المرء لا یحبه الا لله، وأن یکره أن یعود في الکفر بعد اذ أنقذه الله منه کما یکره أن یقذف في النار ...

چا کی چی دری صفات راغلل نو دا به د ایمان خوږوالی وڅکي، دا چی الله او رسول علیه السلام ورته د نورو ټولو خلکو څخه ډیر محبوب وي، او چی یو کس سره صرف او صرف د الله لپاره مینه کوي، او بل دا چی دا کفر داسی بد ګڼي، وروسته دی نه چی الله جل جلاله تری خلاص کړی، لکه څنګه چی اوور کی غورځیدل بد ګڼي.

【الشَّرْطُ الثَّامِنُ: اَلْكُفْرُ بِالطَّاغُوْت】 :leftwards_arrow_with_hook:

" اتم شرط کفر بالطاغوت "

....په طاغوت کفر کول .... او د دی وضاحت مخکی تیر شوی .... پنځم درس وګورئ★

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد؛

! ګرانو ورونو

مونږ او تاسو د الله په فضل او کرم سره د کلمی شرطونه وپیژندل، نو وس د کلمی

بعضی لوازمات به بیانیږي؛

...... چی هغی ته ویل کیږي الولاء والبراء

【اَلْوَلاَءُ وَ الْبَرَاءُ】 :leftwards_arrow_with_hook:

" دوستي او دشمني " "ملګرتیا او دښمني "

..... الولاء، الوِلاية او الوَلاية ویلی کیږي " محبت، نصرت، موافقت او ملګرتیا ته★

....... او البراء ویلی کیږي "بغض، لری والی او دشمنی ته★

.او دواړه د یو بل ضد دي

ابن تیمیه رحمه الله فرمایي؛

فان تحقيق الشهادة بالتوحيد يقتضي أن لايحب الا لله ولا يبغض الا لله ولا يوالي الا لله

......................... ولا يعادي الا لله وأن يحب ما يحبه الله وأن يبغض ما أبغضه

(وهذا ملة ابراهيم وهذا الاسلام الذي بعث به جميع المرسلين. (مجموع الفتاوى

یقینا د توحید ګواهي دا تقاضا کوي چې محبت به نه کوي دا انسان مګر د الله لپاره،

او بغض به نه کوي مګر د الله لپاره او دوستي به نه کوي مګر د الله لپاره او دشمني به

نه کوي مګر د الله لپاره او الله چی د کوم شي سره محبت کوي نو دا به هم ورسره مینه

کوي او چی هغه د څه سره بغض کوي نو دا به هم ورسره بغض کوي ............ وایي دا

د ابراهیم علیه السلام ملت دی او دا هغه اسلام دی چی الله جل جلاله پری ټول انبیاء

.رالیږلي دي

:palm_tree:دلیل؛

{والمؤمنون والمؤمنات بعضهم أولیآء بعض}

{إنما ولیکم الله ورسوله والذین ءامنوا الذین یقیمون الصلاة ویؤتون الزکوة وهم رکعون}

{....... یأیها الذین ءامنوا لا تتخذوا الیهود والنصاری أولیآء}

حدیث؛:palm_tree:

." أوثق عری الإيمان الموالاة في الله والمعاداة في الله والحب في الله والبغض في الله "

(أخرجه الطبراني. (وسنده يرتقي الى الحسن ان شاء الله

د الله لپاره دوستي کول او د الله لپاره دشمني کول او د الله لپاره محبت کول او د الله

....لپاره بغض کول د ایمان تولو نه مضبوطه کړه ده

【أقسام الناس في الولاء والبراء】 :leftwards_arrow_with_hook:

" د ولاء او براء په اړه د خلکو قسمونه"

خلک د دوستی او دشمنی په لحاظ په دری قسمه دي؛

.هغه خلک چی د کاملی دوستی لائق دي..... او دا انبياء او هغه مؤمنان دي چی د منکراتو څخه ځان ساتي -١★

.هغه څوک چی د کاملی دشمنی مستحق دي.... دا کفار، مشرکان او مرتدين دي -٢★

هغه خلک چی له یوې وجی نه د دوستی لائق دي او د بلی وجی نه د دشمنی مستحق دي..... دا ګناهګار مسلمانان دي -٣★
......... د دوی د ایمان د وجی دوی سره مینه لازمه ده او د ګناهونو د وجی نه ورسره بغض لازم دی

.لکه دا تقسيم شيخ الاسلام ابن تيميه په مجموع الفتاوی کی کړی دی

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد؛

...... د الولاء والبراء بحث شروع وو، نن به ان شاء الله د مومنانو سره د ولاء او دوستی صورتونه اووایو

【صُوَرُ مُوَالَاةِ الْمُؤْمِنِيْن】 :leftwards_arrow_with_hook:

" د مومنانو سره د دوستی (ملګرتيا) صورتونه "

.مسلمانانو سره محبت کول -١

.د دوی سره کومک کول -٢

.ځان ورته عاجزه ګڼل او شفقت ورباندی کول -٣

.د دوی خیرخواهي کول او دوی ته په خیر باندی امر او د شر نه منع کول -۴

.تکليف ترى لرى کول او د بندیانو رآزادول -۵

.د دوی د عزت، مال او وینی حفاظت کول -۶

【مُوَالَاةُ الْكُفَّار】 :leftwards_arrow_with_hook:

" د کافرو سره دوستي "

دا دوستي په دوه قسمه ده؛

(الموالاة المکفرة (هغه دوستي چی سړی پری اسلام څخه وځي -١

(الموالاة المفسقة (هغه دوستي چی سړی پری فاسق کیږي -٢

:hibiscus: الموالاة المکفرة

.محبتهم لدينهم والرضا بكفرهم ........ وهذا كفر بالاجماع ★

د دوی دين سره مينه لرل او د دوی په کفر باندی راضي کيدل، په اجماع د مسلمانانو سره

.کفر دی

.مدح دينهم الباطل لأنه تكذيب للكتاب والسنة ★

.د دوی د باطل دين صفتونه کول ځکه دا قرآن او حديث ته د دروغو نسبت کول دي

.مظاهرتهم ومعاونتهم على المسلمين ★

.د مسلمانانو په خلاف د دی کافرو کومک کول

:palm_tree:دليل؛

لا يتخذ المؤمنون الكافرين أولياء من دون المؤمنين ومن يفعل ذلك فليس من الله في شيء إلا أن تتقوا منهم تقاة ويحذركم الله }
.نفسه وإلى الله المصير} آل عمران

:امام طبري وايي

.فليس من الله في شيئ مطلب دا دی "فقد برئ من الله وبرئ الله منه بارتداده عن دينه ودخوله في الكفر " تفسير الطبري

...... چی الله جل جلاله د رحمت نه دا سړی لری دی او الله جل جلاله د ده نه بري دی د وجی د ارتداد نه او د وجی د کفر نه

يآيها الذين ءامنوا لا تتخذوا اليهود والنصارى أوليآء بعضهم أوليآء بعض ومن يتولهم منكم فانه منهم ان الله لا }:palm_tree:
{ يهدي القوم الظالمين

:ابن حزم وايي

ومن يتولهم منكم فانه منهم .... انما هو على ظاهره بأنه كافر في جملة الكفار، وهذا حق لا يختلف فيه اثنان من المسلمين ... (
(المحلى

وايي دا خبره خپل ظاهر باندی بناء ده چی دا د نورو کافرانو په شان کافر دی او دا داسی حق دی چی د مسلمانانو دوه کسان
.يکی هم اختلاف نه کوي

:hibiscus: الموالاة المفسقة

...دوی ته خه خه لقبونه ورکول ..... لکه سيد، مشر، بناغلی او داسی نور تعظيمی الفاظ استعمالول:ear_of_rice:

.لا تقولوا للمنافق سيد فانه إن يک سيدكم فقد أسخطتم ربكم عزوجل) الادب المفرد)

..... د دوی سره اوسیدل:ear_of_rice:

.أنا بريء من كل مسلم يقيم بين أظهر المشركين) ابو داؤد)

..... د مسلمانانو بعضی کارونه او چاری ورته سپارل:ear_of_rice:

ابو موسی رضی الله عنه د عمر رضی الله عنه خوا ته ورغی او نصراني کاتب ورسره وو، نو عمر رضی الله عنه ورته اوویل چی خپل کاتب ته اووایه چی زما لپاره لیکل وکړي نو هغه ورته اوویل چی هغه خو مسجد ته نشي داخلیداي ....نصراني دی نو عمر رضی الله عنه غصه شو او وی ویل؛

.لا تكرموهم إذ أهانهم الله .................. رواه البيهقي

.په مجلس کی مشري ورکول:ear_of_rice:

.دوی سره دوستانی کول:ear_of_rice:

.سلام کی مخکی والی کول:ear_of_rice:

(لا تبدءوا اليهود والنصارى بالسلام واذا لقيتموهم في الطريق فاضطرواهم الى أضيقه)

.رواه مسلم

ترجمه؛ يعنی تاسو په يهودو او نصاراو باندی سلام مه اچوئ او چی کله تاسو مخامخ شولی په لاره کی د يهودو او نصاراو سره ، نو دوی محتاج کړئ تنگی لاری ته

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله ومن والاه، أما بعد؛

د ولاء او براء مختصر وضاحت شروع وو، نن به د الله په فضل سره د کفارو سره مشابهت خبره ذکر کړو، ځکه د مشابهت ......مختلف صورتونه وي چی بعضی په ولاء کی داخلیږي

ځکه نبي عليه السلام فرمايي؛

" من تشبه بقوم فهو منهم "

....چا چی د کوم قوم سره مشابهت وکړو نو د د هغوی نه حسابیږي

【 مونږ شريعت د دوی د مشابهت نه ولی منع کوي ....؟؟】 :leftwards_arrow_with_hook:

قطع الطريق المفضية الى محبة الكفار؛ -١:palm_tree:

.... د مشابهت د وجی د دغه خلکو محبت انسان زړه کی پیدا کیږي

شيخ الاسلام وايي؛

...... ان المشابهة في الظاهر تورث نوع مودة ومحبة، وموالاة في الباطن

....... په ظاهر کی مشابهت کول، په زړه کی يو قسم محبت او دوستي پیدا کوي

أن يتميز المسلم عن الكافر؛ -٢:palm_tree:

چی مسلمان او کافر جدا جدا وپیژندل شي، د مسلمان لباس، شکل او هر څه د شريعت مطابق وي او د کافر نه ډير امتيازات .ولري

في مخالفتهم تحقيق معنى البراءة؛ -٣:palm_tree:

په عدم مشابهت کی د براءت ثبوت پروت وي.چې کامل براءت وي، حتی چې ظاهري شکل وصورت هم د دوی د براءت او دشمنی نمائندگي کوي.

إشعار المخالفين بذلهم وصغارهم؛ -٤:palm_tree:

په عدم مشابهت کی یو نوعه ذلت د کافرانو پروت دی.

【أفعال الكفار】 :leftwards_arrow_with_hook:

د کافرو افعال او کارونه په دری قسمه دي؛

ما كان من جنس العبادات؛ -١★

..... په عباداتو کی مشابهت خو بیخي ناروا دی او حرام دی. لکه د صلیب اچول او عید میلاد المسیح لمانځل

العادات الخاصة بهم؛ -٢★

..... دوی پوری خاص عادتونه او کارونه .... نو دی کی هم مشابهت ناجائز دی...لکه هغه لباس چی دوی پوری خاص وي

ما كان من الصنائع والاعمال؛ -٣★

کافر چی کوم شیان جوړوي او دین سره یې تعلق نه وي نو هغه شیانو جوړولو کی مشابهت جائز دی... دی لپاره چی مونږ د کافرو نه مستغني شو.

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد؛

په انتخاباتو او جمهوریت کی حصه اخستل کفر دی:

لکه څرنګه چې مخکې وویل شول چې الله سبحانه وتعالی د قانون جوړونې حق په ځمکه او ټولو کائناتو کې خپل ځان ته ورکړی او خپل اصول، خپل قوانین او خپل شریعت یې انسانانو ته لېږلی تر څو پیروي یې وکړي نو په داډ ویلی شو چې د همدې ټکي د پلي کولو لپاره یې د بشر د تاریخ په طول کې پیغمبران رالېږلي تر څو د الله عزوجل د هدایاتو په اساس انسان د ځمکې پر مخ ژوند وکړي، کله چې انسانان د الله عزوجل دغو ارشاداتو ته لبیک ووایي دا پخپله پخپل ذات کې عبادت ده، الله سبحانه وتعالی د هغه قوم په اړه چې د الله عزوجل د فیصلو، قوانینو او شریعت په ځای یې د خپلو مشرانو فیصلې، قوانین او شریعت منلي او د حلالولو او حرامولو واک یې ورکړی وو په اړه یې فرمایي:

اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَٰهًا وَاحِدًا ۖ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ. ﴿التوبة : ٣١﴾

ژباړه: هغوی له الله سبحانه وتعالی څخه پرته خپل مشران او علماء په الوهیت نیولي و، همدارنګه مسیح د مریم زوی یې هم [په الوهیت نیولی و] پداسې حال کې چې دوی ته له یو معبود نه ماسوا د بل هیچا د بندګي کولو حکم نه ؤ شوی، هغه معبود

چي له هغه پرته بل هيڅوک د عبادت لایق نشته او هغه ذات له هغو مشرکو خبرو څخه پاک ده چي دوی يې ورته منسوبوي.
ترمذي او غیر له هغه نورو علماؤ له عدي بن حاتم روايت کړی او ددغه آيت په تفسير او توضيح کې ليکي چي:

عدي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چي دغه آيت يې تلاوت کاوه چي:

[اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ....التوبة : ۳۱]

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مي وويل چي:

مونږ د هغوی عبادت نه کاوه، نبي علیه السلام وفرمایل چي: آيا هغه څه چي الله عزوجل حلال کړي وو دوی نه حراموول او تاسو به هم نه ورسره منله؟

او هغه څه چي الله عزوجل حرام کړي وو دوی به نه حلالول او تاسو به هم نه ورسره منله؟

ومي ويل: هو ولي نه.

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي: نو همدا کار ددوی د عبادت کولو په معنی ده.

شيخ الاسلام ابن تيميم رحمه الله وايي: هغه خلک چي پوهېدل چي دوی د الله عزوجل دين تغير کړی او پدې تغير کې يې ددوی پيروي کوله او په نتيجه کې د خپلو رهبرانو د پيروي په عنوان يې عقيده درلوده چي هر هغه څه چي الله عزوجل حرام کړي حلال دي او هر هغه څه چي الله عزوجل حلال کړي هغه حرام دي سره لدې چي پوه شي چي دوی د پيغمبرانو له دين سره مخالفت کړی نو پرته له شکه دا کفر ده او الله سبحانه وتعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه کار شرک بللی سره لدې چي دوی به خپلو علماؤ ته سجدې هم نکولې او يا لمونځونه، نو هر څوک چي له دين سره په مخالفت د کوم څه پيروي له علم درلودلو سره سره وکړي او په هغه څه چي د الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځای کوم کس ويلي وي ايمان او عقيده ولري د هغوی په څېر مشرک ده.

[مجموع الفتاوی ج: ۷، ص: ۷۰]

نو معلومه شوله چي په قانون جوړونه [تحليل او تحريم] کې غير له الله سبحانه وتعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د غيرالله پيروي هغه عبادت ده چي د الله له عبادت سره شريک شوی او په رښتيا هم نن د يوې رأيې په ورکولو خلک ځانو ته د فرعونيت دعوه داران او خپل خپل معبودان ټاکي، عبادت يې کوي او هر هغه څه چي بيا هغوی ورته حلال کړي

دوی يي د [قانوني] په نوم حلال بولي او هر هغه څه چي هغوی ورته حرام کړي دوی يي د [غير قانوني] په نوم حرام بولي.

له بده مرغه لدې امت څخه په ډيموکراتيکه فتنه کي نن ډلي ډلي خلک لاهو شوي حتی هغه هم چي د اسلام او جهاد په نوم يي ځني پريښي او دعوې د الله عزوجل د دين د اقامه لري هم ډيموکراتيک کفر ته د کفر په سترګه نه ګوري بلکي خندوونکي او عجيب نسبتونه ورته کوي لکه نمايشي انتخابات، ډراماتيک انتخابات، وغيره.... خو هېڅکله يي ونه ويل چي کفري انتخابات يا شرکي انتخابات!

دا چي دوی د سيکولريزم د وطنيت اصولو ته سرتيټي کړل شول ورپسي يي مشرانو د ډيموکراتيکو نظامونو اساسي قوانينو ته ژمنتيا وښوده پخپله ددې خبرې نمايندګي کوي چي ددوی پای هم په همدې کفر ده او دوی هېڅکله نه خوښوي چي پخپلو راتلونکو ټاکنو او انتخاباتو نن د کفر فتوا ولګوي او بله ورځ يي خپله خوله شاهدياني وربانديې ووايي.

دا چي رأيه ورکوونکی د رأيي په ورکولو له اسلام څخه خارجيږي دا يوازې د نن ورځي او زمونږ خبره نده بلکي پدې خبره د اسلامي امت اجماع ده، دا د هغه أبومصعب الزرقاوي تقبله الله فتوا ده چي نومونه يي افتخاراً طالبان ځانو ته کنيه کوي، هغه رحمه الله پخپل يو صوتي بيان کي د کانديدانو او رأيه ورکوونکو په اړه فرمايلي،

والمرشحون للأنتخاب]

هم ادعياُ لربوبية والألوهية، والمنتخبون لهم قد اتخذوهم اربابا و شركاء من دون الله و حكمهم

ژباړه: پرته له شکه ټاکنو ته کانديدان د ربوبيت او الوهيت [خدايي] دعوې کوونکي دي او هر هغه څوک چي دوی ته رأيي ورکوي بې له شکه غير له الله څخه يي په خدايي نيسي چي د الله عزوجل په دين کي ددوی حکم کفر او له اسلام څخه خارجېدل [ارتداد] دي.

ډيموکراسي په هر ځای کي بې ديني ده، د ډيموکراتيک کفر د ټاکنو بهير په هره خاوره که حاکم وي هغه کفر او شرک ده سره لدې که په هغه خاوره کي امريکايان هم شتون ونلري ځکه دغه کفري بهير د هغوی د فوځيانو د شتون له کبله کفر نه بلکي پخپل ذات کي کفر او له الله سبحانه وتعالی سره د حاکميت په توحيد کي شرک کول دي.

له الله سبحانه وتعالی څخه ووېربېږئ او پدې کفري او شرکي بهير کي د فاسقانو له ملتيا ځانونه خلاص کړئ، له دوي ليرې واوسئ چي دوی تاسو ته د اور په لوري دعوتونه درکوي، دوی د دوزخ په څنډو ولاړ او تاسو ته هم په همدې لور بلني درکوي چي پرته له شکه ددوی ملتيا به تاسو ته په آخرت کي دردناک عذابونه درکړي.

:tulip:بسم الله الرحمن الرحيم:tulip:

موضوع اووټ ورکول،

په ووټ ورکولو ،او انتخاباتو کی شراکت کولو کي جهل عذر دی، او که نه؟

:بسم الله والصلاة والسلام علي رسول الله امابعد

:ومن الله نستمد ونطلب الثواب في هذالباب

دعوي الجهل والعذربه فيه تفصيل ؛

روره پدی خبره ځان پوهه کړه چه یو مسائل ظاهریه( یعنی ښکاره )دی،

او بل مسائل خفیه( یعنی پټ)دی،

...نو علماء کرام وایی چه مسائلی خفیه کی جهل عذر دی

اوپه مسائلی ظاهریوکی جهل عذر ندی،

لکه هغه مسائل چه اسلام واضحه بیان کړیدی ،

دنبی علیه السلام په خوله مبارکي سره، اویایی په قران کی بیان کړیدی،

او په مسلمانانو کی خپاره شویدی.نو پدیکی جهل عذر ندی،

او خاص کر دعقیدی مسائل، او هغه چه داصل الدین سره تعلق ساتی؟

ځکه نبی علیه السلام مونږه اوتاسی په یو داسی دین پریخودلی یو،

لیلها کنهار شپه یی هم ده دورځی په شان ده،

او قران کی هدایت او نور دی،

وس که یو سړی اوایی ،چه زه نه پوهیږم چه ماسیوا دالله نه دبل چا عبادت کول داشرک دی اویا وایی چه مونځ فرض ندی اویا وایی چه زکات

:ورکول فرض ندی او وغیرا ددی پشان

نو پدی مسائلو کی جهل عذر ندی؟

او ډیمکراسی داد ځمکی والا نظام دی، ځکه ددی تعریف هم داسی دی،

حکم الشعب للشعب ..یعنی دخلکو په لاس جوړ شوی قانون او دخلکو دپاره،او دا داسلام خلاف دی، ځکه قانون به یواځی .دالله تعالی وی

او تشریع حق صرف دالله عزوجل دی دا بل هیچا ته حاصل ندی،

:که هر سوک وي، ،كائن من كان

(\اددي وجي نه په( موسوعة الأديان ،والمذاهب المعاصرة؛ج2\1066

كي راغلي دي ،ولاشك في ان النظام الديمقراقطية احد صورالشرك الحديثية في الطاعة والإنقياد او في التشريع حيث تلغي سيادة الخالق.سبحانه وتعالي،وحقه في التشريع المطلق،وتجعلها من حقوق الخلوقين،والله.تعالي.يقول:مَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِهِ إِلَّا أَسْمَاءً سَمَّيْتُمُوهَا أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ ۚ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۚ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ:..يوسف..

پدی خبره کی شک نشته دی ،چه نظام دډیمکراسی (یعنی والسواکی)چه دادنوی شرک دقسمونونه یو قسم دی،په تابعداری کولوکی او په غاړه کیخودلو کی او په حلال والی او حرام والي کی،ځکه پدی سره دالله عزوجل حق لغوا کیږی ،چه هغه تشریع مطلق ده،

او دالله عزوجل حق بیا مخلوق ته ورکول کیږی،.؟

نو انتخابات اووټ ورکول داد جمهوريت او ډیمکراسی او ولسواکی ارکانو او ځانګونه یوه اهم رکن اوځانګه ده

ددی ایات دلاندی تفسیر سعدي والا وایی

مَا أَنْزَلَ اللَّهُ بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ } بل أنزل الله السلطان بالنهي عن عبادتها وبيان بطلانها، وإذا لم ينزل الله بها سلطانا، لم يكن }، طريق ولا وسيلة ولا دليل لها.

لأن الحكم لله وحده، فهو الذي يأمر وينهى، ويشرع الشرائع، ويسن الأحكام، وهو الذي أمركم { أن لا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ } أي: المستقيم الموصل إلى كل خير، وما سواه من الأديان، فإنها غير مستقيمة، بل معوجة توصل إلى كل شر.

مقصد يې دادی چه قانون به صرف دالله تعالی وی،او حلالول او حرامول او احکام ټاکل دادالله عزوجل حق دی ځکه داسی دين يې مونږه ته راليګلی دی چه مجموعه دخير ده او ماسيوا ددين اسلام نه نور دينونه هغه غير مستقم دی او شر طرف ته انسان رسوي،،.

نو سوک چه راولګي او چاته ووټ ورکړی، نو هغه که ستا په ووټ باندی پاس شی او فارلمان ته لاړشي نو قانون سازهم دوی وي ..

. نو داقاعده ده علماء کرام وايی رده له حکم دمباشر وي

اوسوک.چه قانون جوړ کړی دځانه ماسیوا دالله عزوجل دقانون نه نو پدی سره انسان داسلام نه وځی او مرتد کیږی،

لكه سنګه چه امام ابن كثير رحمه الله وايی..ددی ايات دلاندی. : ( أفحكم الجاهلية يبغون ومن أحسن من الله حكما لقوم يوقنون، مما يضعونها بآرائهم وأهوائهم ، وكما يحكم به التتار من السياسات الملكية المأخوذة عن ملكهم جنكزخان الذي وضع لهم اليساق وهو عبارة عن كتاب مجموع من أحكام قد اقتبسها عن شرائع شتى ، من اليهودية والنصرانية والملة الإسلامية ، وفيها كثير من الأحكام أخذها من مجرد نظره وهواه ، فصارت في بنيه شرعا متبعا ، يقدمونها على الحكم بكتاب الله وسنة رسوله صلى الله عليه وسلم . ومن فعل ذلك منهم فهو كافر يجب قتاله ، حتى يرجع إلى حكم الله ورسوله [ صلى الله عليه وسلم ] فلا يحكم سواه في قليل ولا كثير ،

نو ابن كثير وايی چه چا دچنګيز خان په دځانه قانون جوړ كړو اوبيا يی،

: په هغی فيصلی كولی نو دا كافر دی او قتال ورسره فرض دی

تر سو پوری چه دالله قانون ته واپس شی،

نو دامام ابن كثير رحمه الله په فتوای باندی هغه خلک چه انتخاباتوته ودريږي او بيا فارلمان کی دځان قانون جوړه وی نو دا ټول داسلام وتلی دی او مرتد دی

او هغه خلک چه دويته ووټونه وركوی نو علماء وايی چه ردء لره حكم دم

.باشر وی

وس به راشو دی

خبری ته چه ووټ وركول داد مسايل ظاهريونه دی،

:اوكه خفيونه دی

.نو علماء پدی کی اختلاف دی، ...خو صحيح خبره داد چه پدی دوركی

ووټ.وركول دا دمسائلی ظاهريونه دی،ځكه دادنوی شرک چه جمهوريت او ډيمكراسی ده دهغی دځانګونه يوه ځانګه دی،

اوشرک دادعقيدی مسائلوسره تعلق ساتی نو لهذا په ووټ وركولو کی جهل عذر ندی.؟

.نو مسلمانانو لره پكار دی چه ووټونو وركولونه ځان وساتی

لكه سنګه چه سجده او ركوع بل چاته كول شرک اوكفر دی ،

.نو دغه شان ووټونه وركول،هم.شرک او حرام دي

او پدی سره انسان داسلام نه وزی،اومرتد كيږی،؟

ځكه چه دتشريع حق تاسی بل چا ته وركړو، او دا دالله حق دی،

اودا تحکیم دالله عزوجل دعباتونه یو قسم دعبادات دی،
او دی خبری ته الله عزوجل په سورت یوسف کی اشاره کړیده،
او عبادت دا صرف دالله عزوجل حق دی ،

نوددینه ځان وساته هسی نه چه دورځي په قیامت مو ټول اعمال برباد وی او دځانه خبر نه یاست،
که چه داکارکړی وی الله عزوجل ده ته توبه اوباسي،ځکه توبه دهر چانه قبلوي په دنیا کی؟

او که جوند ؤو اوچا تپوس وکړو انشاء الله تعالی موانع التکفیر به درته تفصیلي ذکر کړم.؟
هذا ماعندي والله اعلم باالصواب